# مونږ او توحید

لیکونکي: بشیر احمد لودهي

Ketabton.com

بیا کتونکي: حافظ صلاح الدین یوسف

پښتوژباړونکي: قریب الرحمن سعید

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

د کتاب د ژباړې په اړه:

د ۲۰۱۰ زیږدیز کال د دسمبر د میاشتې په نیمایی کې په ناروې کې د افغانانو د امام دروند مولوي صاحب عبد الرؤف ساپي ( ابوبکر ) له اړخه د ایټالیې د هیواد په ګډون د څو اروپایي هیوادونو د سفر بلنه را کړل شوه. ما هم دغه بلنه ، که څه هم په روغتیایي توګه ورته تیار نه وم ، ومنله او بیا مو د دسمبر د میاشتې په شپاړسمه د ناروې څخه د سویډن او ډنمارک نه علاوه د جرمنی د هامبورګ او مونشن ښاورنو ته سفر وکړ ، دې سفر په جریان کې په مختلفو ښارونو کې دیو شمیر دوستانو سره د څه وخت د تیرولو وروسته د اطریش له لارې ایټالیا ته ورسیدو . هلته د میلن په ښار کې څو پاکستاني دوستان ، چې زمونږ د بلنې اصلي خلک وو ، مونږ ته منتظر وو ، هلته د څو شپو او ورځو د تیرولو او په دیني مسایلو باندې د بحث او څیړنې وروسته د بیرته راستنیدو په وخت کې د دغه ځای یو منبور پاکستانې دوست ( ملک حسن ) ما ته څو کتابونه ډالۍ کړل چې په هغې کې یو هم د «مونږ او توحید » کتاب و. هغه له ما څخه کلکه غوښتنه وکړه چې که زه یې په پښتو ژبه و ژباړم تر څو د عامو پښتنو مسلمانانو د عقایدو په تصحیح کې څه رول ادا کړای شي .

دا کتاب ما ولوست او په ډیر دقت سره مې ولوست ، په دې کې د عقیدې د سمې کولو له پاره چې کوم قراني دلایل وړاندې شوې او یا د رسول الله صلی الله علیه وسلم او نورو انبیاؤ په وینا او عملونو باندې استناد شوې دې ، ډیر د غور وړ دي.

ما هم د الله تعالې څخه د خیر او برکت د غوښتنو او په دې اړه د ثواب د ترلاسه کولو له پاره خپل نور کارونه شاته و غورزول او د همدې کتاب په ژباړه مې پیل وکړ چې الحمد لله په ډیر لږ وخت کې مې د هغې ژباړه سرته ورسوله .

کیدای شي په ژباړه کې او یا د مضمون د ټیپ کولو په وخت کې څه غلطی شوی وې چې د لوستونکو په کومک به یې انشاء الله په را تلونکې کې اصلاح کړو .

ستاسې ټولو څخه د خیر او عافیت د ترلاسه کولو له پاره د دعاو منتظر یم.

الله تعالې دې زمونږ عقاید همغسې جوړ کړي لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته را ښوولې دي .

الله دې د دې ستر کار اجر د دې کتاب لیکونکې او تر څنګ یې زما درنو والدینو ته هم ور ورسوی. (امین (

ستاسو د دعاوو منتظر :

قریب الرحمن سعید

اتم جنوري ۲۰۱۱م زیږدیز کال

ناروې ، اوسلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلاشریک او ذوالجلال خداې په نامه

سرلیک:

څو کاله تر مخه مې نذیز بهتي صیب ته یو لیک ولیکه. هغه لیک د ( د سیالکوټ د معاشرې د اصلاح د ټولنې ) له اړخه د « مونږ او توحید » دکتاب په نامه چاپ او بیا د همدې ټولنې د مصارفو په بسپنه دخلکو تر منځ وویشل شو.

الحمدلله ! زیاتو لوستونکو هغه ډیر خوښ کړ. اوس دهمدې دوستانو د زیات اصرار په واسطه یو ځل بیا خپله دغه پخوانۍ لیکنه لوستونکو ته وړاندې کوم. زه ډله بندې ګناه ګڼم، او دخیر ددعا پرته بل کوم غرض نه لرم. ما ته دخپلې بې بضاعتۍ په اړوند احساس شته. خو ددې ټولو کمیو سره سره بیا هم زه ستاسې تر مخ دمخاطب کیدو جرءت کوم. کیدې شي چې زه به تاسو دخپله ځانه سره همخیاله نه کړاې شم او زما دغه څیړنه به ستاسې دعقایدو سره په ټکر کې وی، خو سهې د غلط څخه او حق د باطل څخه د جدا کولو له پاره باید یو میزان او تله موجوده وی. دمسلمانانو له پاره چې کوم اصول دقران او د رسول الله صلی الله علیه وسلم دحدیثو له مخې ټاکل شوي ، دهمغوې نه غوره تله او میزان بل نه پیدا کیږي.

تاسې هم دا خبره په خپل ذهن کې وساتئ او دحق په لاره کې د تعصب خنډ مه پریږدئ ، ښکنځلې کول او یا په غصې کیدل او یا د کتاب سوځول د لیونیانو کار دې. هغه په خلاص زړه سره ولولئ او بیا یې د قران او حدیث په تله کې وتلئ ، که خبره سهي وه نو ما ته دعا وکړئ او که غلطه وه نو ما ته لیک و لیکئ او لار ښوونه راته وکړئ. په خلاص نیت سره دعا وکړئ چې الله تعالې ما ته او تاسې ته همغه لاره را وښیي چې دهغه حبیب محمد عربي صلی الله علیه وسلم لاره وي ، الله تعالې ته غوره وي. راځئ چې یو ځاې دعا وکړو.

په دې خبره باندې اعتراف کول هم ډیر اړین ګڼم چې وو ایم چې زه نه کوم عالم او فاضل یم ، نه کوم مولوي ، پیر ، صوفی ، درویش او یا دشپې بیداره زاهد یم. او ددې لارې په خپلو ښیګڼو وویاړم.

»هغه چې په هندو توب ناز یدو هغه نن حجازی وخوت.

ددې محفل دغه پخوانې شړل شوي نن نمازی وخوت« .

دمصداق په اساس زه هغه تور مخې یم چې د ژوند بهترین وختونه مې په جهالت او تیارو کې تیر شوي دي. لمړنۍ ښوونه مې په مندر کې پروت لمړنې ښوونځي کې ترسره کړې او دهمغې په اساس مې د همغه کوچنی والې څخه د بتانو او مندرونو سره ځانګړې غقیده درلوده. بلکه دهندو مذهب درغبت په اساس زما مور او پلار ډیر اندیښمن و. دا یو اځې زما درب فضل و چې دغه بې لارې یې دحرم په لور راوست. الحمدلله ، نن د فرقه پالنې د لعنت څخه اخوا او د همدردۍ د جذبې څخه ډک دخپلو دوستانو سره په دې خاطر مخاطب یم چې زما دا لیکنه به د کوم لارورکي له پاره دلارې مشال وګرځي او زما له پاره به د نجات پانګه شي. شاید چې زما دغه ډیر کم زحمت به دالله په دربار کې قبول شي ځکه هغه غفور او رحیم دې ، هغه به زما دغه تور مخ پریمنځې تر څو د قیامت په ورځ زه هم دخپل مخ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوولو وړتيا ولرم. زه نه اديب يم او نه شاعر. چې ستونزمنه او په الفاظو کې را نغښتې ليکنه وړاندې کړم خو بيا هم زما په ليکنه کې به دژبې او بيان څه غلطيانې هم وي ، په دې خاطر تاسې زما د ليکنې ټولې خامئ د نظره لرې کړئ او زما په اصل مقصد باندې غور او توجه وکړئ.

ما د بحث لاندې موضوع په ذهن کې د کينولو په خاطر د هغې د اوږدوالې څخه خپله لمن راټوله کړې ده. او دلنډيز څخه مې کار اخستې دې. نو که چيرې تاسې هغه ټول ياد کړل شوي ايا تو نه د سياق و سباق سره په قران کې ولولئ نو ډير زيات ګټور معلومات به تر لاسه کړئ .

بشير احمد لودهي ( فتح ګړھ ، سيالکوټ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

د الله تعالې په اړه د باطله مذهبونو آند.

الف:-د الله تعالې په اړه د هندوانو آند:

دا انګیرنه به غلطه وي چې څوک ووایي چې هندوان د الله تعالې څخه منکر دي. هندوان هم یو ائې او یو ائې یو الله مني. دا جدا خبره ده چې هغوې الله تعالې په څو نورو نومونو سره یادوي. د نمونې په توګه د هغوې په مشهور مذهبي کتاب « بګوت ګیتا» کې الله تعالې د « وشنو » په نامه یاد کړل شوې ، او د ټولو عیبونو څخه یې پاک، د هرشي خالق او پیدا کونکې ، څارونکې او فناکونکي ګڼلي. همدغه یې د مظلومانو پناه ځاې او د حق د پلټونکو له پاره خپلو موخو ته د ورسیدلو منزل ګڼلي ، هغوې په دې ګروهه دي چې «وشنو» د «اوتارانو » په بڼه په زمکه رابښکاره کیږي ، د هغوې د ویناو په اساس ، (نرسنګ ) د هغې څلورم ، (رام چندرجي ) د هغې اووم او (کرشن جی مهاراج ) د هغې اتم «اوتار» دې. د هغوې د ویناو له مخې «وشنو » په مختلفو وختو کې په مختلفو بڼو باندې ، په همغه توګه چې نن یې مسلمانان هم وایي ،په زمکه را څرګندیږي:

وهي جو مستوې عرش تها خدا هوکر اتر پړا مدینې مین مصطفې هوکر

چاچړ وانګ مدینه ډسي تې کوټ مټهن بیت الله ظاهر وچ پیرفریدن تې باطن وچ الله

متې دا بت بنا کې آپې وچ بهه ګیا جګان نون بناون والا کهړې کهیډې پې ګیا

( استغفرالله ، نعوذ باالله ثم نعوذ باالله )

د هندوانو د عقایدو په مطابق د همدې بزرګانو عبادت کول په حقیقت کې د «وشنو » عبادت کول دي. تر هغې پورې د ورسیدو له پاره د «دیوتاګانو »خوشحالول لازم او اړین دي او که نه چیرې دا «وشنو» او چیرې دا د خاورو څخه جوړ شوې انسان. اوس نو غور وکړئ چې د ننیو مسلمانانو عقیده د هغوې څخه تو پیر لري او که نه ؟

د دویم نړیوال جنګ د اور لمبو ټوله نړۍ په خپلو لمبو کې را ونغاړله. ما ته هم د عسکري خدمت په لړ کې په لرې شرقي هیوادو لکه (برما او .... ) کې د ګرزیدو را ګرزیدو فرصت تر لاسه شو. هلته د خلکو مذهب «بدمت یاد بوتانو عبادت» دې. ما ته د هغوې کورنو او عبادتځایو ته د ور ننوتلو موقع هم تر لاسه شوه ، د ګوتم بد ، بت ووینئ ، د هغوې عقیده هم د هندوانو د عقیدې سره یو شانته والې لري ، یوائې په نومونو کې یې توپیر لیدل کیږي.

د بتانو عبادت:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا به سهي نه وي چي وو ايو چي بت پالونکي خلک د بتانو عبادت کوي ، هغوې هم تيږه د تيږې په څير پيژني ، که چيرې د تيږو عبادت يې هدف وايي نو بيا به يې د غرونو عبادت کاوه. ځکه هلته ستري ستري تيږي شته او تر څنګ به يې د سړکونو په جوړولو کي دتيږو د استعمالولو بې عزتي نه کوله ، خو هغه تيږه چي دکوم درونډ او بزرګ شخصيت په نامه منسوب کړل شوي وي نو بيا دهغې تيږې احترام کول او دهغې عبادت کول خپل فرض ګڼي. هغوې دهغو بزرګانو عبادت کوي دکوم له پاره چي هغه تيږه يا لرګي منسوب شوي وي. دهغوي مقصد دغه تيږه يا لرګي نه وي بلکه دهغه شخصيت ذات وي ، په نړۍ کې هيڅوک هم د بتانو عبادت کونکي نه شته بلکه د بزرګانو عبادت کول يې مقصود وي.

دزماني بدلونونه:

دجاپان په دوو سترو ښارونوناګاساکي او هيروشيما باندې د «ستر زوي او کوچنی زوي» تر نامه لاندي ددوو اتمي بمونو په راغورزولو سره د جاپان ددې ښارونو څخه کنډرې جوړې شوې وې ،د جاپانيانو دماتې سره سم دجرمني په عسکري ځواکونو کي هم بې نظمی را پيدا شوه او دهغې وروسته دويمه نړيواله جګړه پاې ته ورسيده. دهغې وروسته پاکستان هم منځته راغې ، د الله تعالې فضل و چي هندوان دوستان بيرته هندوستان ته ولاړل او مونږ ته مسلمان دوستان تر لاسه شول. هغه هم ډير عجيب وخت و چي په ټولو کي د اسلام جذبه په پوره قوت سره موجوده وه . ټول د لمانځه ادا کونکي اود روژې نيونکي و. هرسهار او ماذديګر به د قران تلاوت کيده ، ما په خپلو غوږونو دراډيو څخه دلمړي ځل له پاره د ۱۹۴۷ ز کال د اګست په څوارلسمه په ډيره خوږه اوخوندوره ژبه دقران تلاوت واوريد. او د « نيکو خلکو کيناسته به تا نيک و ګرځوي» د وينا په مطابق ماته د لمړی ځل له پاره د قران د لوستلو شوق راپيدا شو. زما د پلار دعاوو خپل اغيز را څرګند کړې و اوزه عملا مسلمان شوم. مندر ته د تللو په ځاې مې جومات ته مخه کړه. ما به په ډيره کراره توګه دقران تلاوت کاوه ، خو زما په زړه کې يوه خبره را پورته شوې وه او هغه دا چي د ژباړې پر ته د قران لوستل به په هغه بل ژوند کي ګټور وي، خو په دې ژوند کي ترې هيڅ ډول ګټه نه شي اخستل کيدې. نو په دې خاطر ما دقران د عربي لوست تر څنګ دهغې په اردو ژباړه باندې هم پورته دقت کاوه ، ما يو کوچنې چاپ کړل شوې قران مجيد را وپيره چي تاج کمپنۍ خپور کړې و ،دهغې د هر آيت لاندې اردو ژباړه هم ليکل شوې وه. د قران دا نسخه اوس هم له ما سره شته. ما به په يوه ورځ کې يو څو آيتونه لوستل خو دهغې اردو ژباړه به مې په خپل ذهن کي ساتله. آيتونه به مې يو ځاې کول او بيا به مې ترې نتيجه تر لاسه کوله ، ددې تګلارې په واسطه زما او زما ددوستانو تر منځه څه اختلافات هم را ډاګيزه شول. لکه څنګه چي په قران کې الله تعالې فرمايلي دي:

»دا دبرکته ډک کتاب مونږ په دې خاطر پر تا نازل کړ ، تر څو دا خلک دهغې په آيتونو باندې غور و کړي او دعقل او فکر لرونکي خلک ترې سبق تر لاسه کړي. »(ص:۳۸/۲۹(

»ايا دا خلک په قران کې غور او فکر نه کوي اويا دا چي دهغوې زړونو ته قلفونه ور اچول شوي دي «

) محمد: ۴۷/۲۴(

ما فکر وکړ چي:

(c) ketabton.com: The Digital Library


کیون زیان کار بنون سود فراموش رهو ؟ فکر فردا نه کرو محو غم دوش رهو

)علامه اقبال(

»ولې زیان کاره شم او د سبا ګټه هیره کړم. د سبا فکر و نه کړم او یوا ځې د اوس په غم کې واوسم«.

د علماو سره اختلاف:

دمسلمانانو سره د ناستې پاستې په وخت کې را ته دعلماو دخبرو د اوریدو فرصت هم تر لاسه شو ، زه په مندر کې را لوې شوې وم ، او د بت پالونکو تر منځ مې دخپل ژوند یوه برخه تیره کړې وه. په دې خاطر مې دعلماو ددې خبرې دمنلو څخه انکار وکړ چې ویل یې: د مکې کافر او مشرک د الله تعالې څخه منکر وو ، او د تیرو څخه جوړ کړل شوې بتان یې خدایان ګڼل او دهغوې بندګې یې کوله. ماد همدې پوښتنې دځواب له پاره د قران کریم پاڼې اړولې را اړولې او د ځواب دپیدا کیدو هڅه مې کوله. ما په قران کې ولوستل چې دمکې قریشو هم یوا ځې یو الله تعالې د ټولو د پیدا کونکي ، د ټولو د مالک ، حاجت روا او مشکل اسانونکې په څیر منې ، تاسو به زما په دې خبره لږ څه حیران شوې یاست خو زما دا خبره پخپله قران کریم تصدیقوي.

دمکې کفار او د الله په اړه دهغوې آند:

دمکې کفارو د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په طریقو باندې د تللو څخه انکار وکړ،نو الله تعالې حکم وکړ چې دهغوې څخه د الله تعالې په اړه یو څو پوښتنې وکړئ ، نو دهغوې څخه چې د کوم ځواب ورکولو هیله کیده هغه هم قران کریم را نقل کړیده:

»او پرته له شکه ، که چیرې ته د هغوې څخه وپوښتې چې اسمانونه او زمکې چا پیدا کړي دي ، او لمر او سپوږمۍ چا مسخر کړي ( په کار یې اچولي دي ) ، نو دوې به سمدستي ووایي چې: الله تعالې. نو دې چیرې دي ؟ الله دخپلو بندګانو څخه د هر هغه چا رزق اوروزی پراخوي چې اراده یې وکړي او دهر هغه چا له پاره چې اراده وکړی روزي یې تنګوی ، بیشکه چې الله تعالې په هرشي ښه عالم او پوه دې ، او که ته د هغوې څخه وپوښتې چې د اسمان څخه او به چا نازل کړی دی ، چې په هغې سره یې زمکه دمرګ وروسته بیرته را ژوندۍ کړې ده ،نو دوې به خامخا ووایي چې الله تعالې ، نو ته ورته ووایه(اې محمده ) چې: ټوله ثنا الله ته ده ، خو ددوې ډیرکي نا پوهه دی. (عنکبوت: -۲۹/۲۱ ۲۳ )

غور وکړئ اوزه هم هر وخت په همدې فکر کې یم چې ټول الله تعالې منې ، څکه په دې اړه پخپله الله تعالې شاهدې ورکوي نوبیا ولې هغوې لار ورکي او بې عقله و ګڼله شول ؟ په یوه بل ځاې کې الله تعالې فرمایې چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



)»اې نبي ! ) ورته ووایه چې: تاسې ته د اسمانه او زمکې څخه څوک روزي درکوي ؟ یا د اوریدو او کتلو د ځواکونو مالک څوک دي؟ او دژوندیو څخه مړي او دمړو څخه ژوندي څوک را باسی ؟ او هغه څوک دي چې د کارونو (په اړه ) تدبیر کوی ؟ نو هغوې به هرو مرو ووایي چې الله تعالې. نو ورته ووایه چې ایا تاسې اوس هم دهغه څخه نه ویریږئ ؟» (یونس: ۱۰/۳۱(

زه په دې خبره ډیر زیات حیران وم چې په دې توګه د الله تعالې د منلو زیان څه دې ؟ مونږ یې هم همدا ډول منو. خو داسې منونکو ته یې د نه ویریدونکو خطاب کړې دې. دا ولې ؟ بیا یې وفرمایل:

»او که چیرې ته دهغوې څخه پوښتنه وکړې چې اسمانونه او زمکې چا پیدا کړي دي نو دوې به ووایي چې الله. ته ورته ووایه چې: د ټولو ستاینو او تعریفونو وړ ، دالله تعالې ذات دې ، خو ددوې ډیر پرې نه پوهیږی.» ( لقمان: ۳۱/۲۵(

ما دغه آیتونه په زړه کې د لټون د جذبې سره یو ځای را یو ځای کول ، حیران وم چې نقص په څه کې دې چې زمونږ په څیر د الله تعالې منونکو ته نه پوهیدونکي وایی. ما یو ځل بیا د الله تعالې دغه وینا ولوسته چې:

»هغوې ته ووایه چې که چیرې تاسو ته څه پوهه وی نو ووایاست چې زمکه او دزمکې په سر دغه ټوله ابادي د چا ده ؟ دوې به هرو مرو ووایي چې د الله. ورته ووایه چې بیا تاسو ولې په هوش کې نه یاست ؟ دهغوې څخه وپوښته چې د اوه اسمانونو او ستر عرش مالک څوک دې ؟ دوې به هرو مرو ووایي چې الله ورته ووایه چې بیا تاسې ولې نه ویریږئ ؟ دوې ته ووایه چې: ووایاست ، که چیرې تاسې پوهیږئ چې په هر شي باندې د چا واکمنی ده. او هغه څوک دې چې پناه ورکوي او دهغه په مقابله کې هیڅوک پناه نه شي ورکولې ؟ نوهرو مرو به ووایي چې دا خو یواځې دالله پورې اړوند دي. ورته ووایه چې بیا ولې تاسو په دوکه او فریب کې یاست ؟ »( المؤمنون:۸۹-۲۳/۸۴(

هغه وخت چې ما دا آیاتونه ولوستل نو د نورو خبرو څخه پرته مې دمسلمانانو ددې شعر سره هم ډیر زیات اختلاف را پیدا شو چې وایی:

خدا کا بکړا چھرالې محمد(ص) محمد(ص ) کا پکړ چھړا کویی نهین سکتا

»د خداې نیونکې به محمد خلاص کړي خو د محمد د نیونکو دخلاصون له پاره هیڅوک نه شته«

اخر ولې او څه ډول ؟ ولې یې دسیدنا محمد صلی الله علیه وسلم په مقابل کې خداې دومره محبور را څرګند کړې دې.؟ حال دا چې حقیقت دادې چې دالله تعالې په مقابل کې هیڅوک هیچاته هم پناه نه شی ورکولې.

که تاسې لږ څه توجه وکړئ نو د پورتنې ایات د لوستې څخه دا را څرګندیږي چې د مکې کفارو د زمکې او اسمانونو پیدا کونکې، دیوه قانون له مخې د لمر او سپوږمۍ څرخونکې ، دروزۍ د ورکولو څخه اخوا په هغې کې د کمښت او ډیرښت ، په هر شی باندې پوره او مکمل علم لرونکې ، داسمانونو څخه باران نازلونکې ، دهغې په واسطه د مړې زمکې څخه ژوند را زرغونکې ، داوریدو او لیدو د ځواکونو مالک ، دمړو شیانو څخه ژوندي او د ژوندیو څخه د مړو شیانو پیدا کونکې، ددغې ناپیدا کائیناتو پلان جوړونکې ، دزمکې او په زمکې کې دپرتو شیانو مالک ، د اوه اسمانونو او د ستر عرش مالک، چې دهغه د قدرت په لاسو کې هر څه شته ، هر چا ته پناه ورکونکې ، او هغه ذات چې دهغه په مقابل کې هیڅوک هم هیچاته پناه نه شې ورکولې ، الله تعالې یې مانه. بلکل همغسې لکه نن یې

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې مونږ او تاسې منو. بلکه زه په قران کې د دې آيت په لوستولو باندې حيران شوم چې د مکې کفار په دعاو کې هم يوه الله ته مراجعه کوي ، لکه څنګه يې چې مونږ او تاسو منو:

»او کله چې هغوې وويل: اې زمونږ پروردګاره ! که چيرې دا قران په ريښتيا هم ستا له اړخه حق وي نو پر مونږ د اسمانه څخه تيږې را وورّوه ،او يا پر مونږ باندې بل کوم دردناکه عذاب را نازل کړه» (الانفال:۸/۳۲(

دا دهغه وخت خبره ده چې دمکې کفارو زمونږ د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د تبليغ مخه و نه شوه نيولې. نو دستومانتيا نه په ډک زړه هغه وخت چې ابوجهل دبيت الله څخه طواف کاوه نو دهغې غلاف يې ونيوه او دا دعا يې وکړه. خو تاسو په دې بحث کې مه غورزيږئ ، چې دا څوک و او په کوم وخت کې او يا په کوم حالت کې يې دعا غوښته ؟آيت په څرګنده توګه وايي چې دا د قران يو منکرو ، لکه په يوه بل ځاې کې چې فرمايي:

»او وايي چې: اې زمونږ پروردګاره ! زمونږ برخه د حساب دورځې څخه مخته مونږ ته راکړه» (ص:۳۸/۱۶(

ما چې هر وخت دغه آيتونه لوستل زما په حيرانتيا کې ډيرښت راته ، ما ته ډيره د تعجب او حيرانتيا خبره دا وه چې يو قوم چې زمونږ په څير دهر شي مالک او خالق يو اځې او يو اځې الله تعالې ګڼي او دهرې ستونزې په وخت کې ، زمونږ په څير ،دهمغه لورې ته د خپلې دعا لاسونه پورته کوي نو بيا مونږ دا ډول مسلمانۍ دعوه وکړو او هغوې دې کافر و ګڼل شي. دې قوم ته بيا بيا وويل شول چې «تاسې چيرې ګرځئ؟»....« دهغوې ډيرکي بې عقله دي»....« ايا تاسې نه ويريږئ ؟»...« ددوې ډير بې علمه دي»...«ايا پند او نصيحت نه شئ تر لاسه کولې ؟»....« تاسې په کومه دوکه کې پريوتي ياست ؟»... اوداسې نور. قران کريم دا غوټه هم هواره کړې ده.

ولې کافر ؟:

زه د نبي اکرم صلى الله عليه وسلم او دمکې دکفارو تر منځ د دښمنيو او مخالفتونو د پيدا کولو پسې نا کراره وم. دغه پاک کتاب چې:

»دخلکو له پاره هدايت او لارښوونه ده او په داسې څرګندو لارښوونو او تعليماتو باندې مشتمل دې چې نيغه لاره ورښوونکې او دحق او باطل تر منځ توپير را څرګندونکې دې» (البقره: ۲/۱۸۵(

په دې کتاب کې ما يو آيت ولوست ، او همغې راته دا ستونزه حل کړه:

»هغوې د الله نه پرته دهغو خلکو بندګي او عبادت کوي چې نه ورته زيان رسولې شي او نه ګټه. خو دوې وايي چې دا شيان د الله په وړاندې زمونږ په اړه سپارښتنه کوي. اې نبي ! دوې ته ووايه چې: ايا تاسې الله ته د زمکې او اسمان دهغوې شيانو په اړه خبر ورکوئ چې هغه ته يې علم نه شته ؟ الله دهغه څه نه پاک ، ستر او د لوبيي خاوند دې ، چې دوې يې ورسره شريک ګرځوي.»( يونس: ۱۰/۱۸(

لږ څه غور وکړئ ! په دې آيت کې يې دهغو خلکو قصور را ډاګيزه کړې دې او هغه دا چې دوې د الله په وړاندې د کوم مړ شوې بزرګ روح ته اواز کوي ، چې هغه دې ددوې سپارښتنه وکړي ، همغه يې د الله سره شريک ګرځولې دې ، قران همدا خبره داسې را څرګندوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library


»هغو خلکو چې د الله پرته یې بل څوک خپل ولي نیولي دي( دهغوي په اړه دوي وایې چې ) مونږ په دې خاطر دهغوي بندګي کوو چې دوې به مونږ الله ته ورنږدې کړي» ( الزمر: ۳/۳۹(

دخبرو لنډیز:

د قران کریم دلوستلو څخه دا ډاګیزه کیږي چې د مکې کفار هم د هندوانو په څیر د الله نه منکر نه و ، بلکه دهمغه څخه یې دعاوې غوښتلې خو تر څنګ یې دخپلو بزرګانو عبادت هم کاوه یعنې دهغوي نذر ونیاز او دهغوې په نامه یې خیراتونه هم ورکول.دهغوې په نومونو باندې یې، دهغوې د روحونو دخوشحالولو له پاره ، وظیفې هم کولې، په دې خاطر چې دوې به زمونږ په اړه سپارښتنه کوی او مونږ به الله ته ور نږدې کوي ، او که نه چیرې الله او چیرې دا خاورین انسان. بس همدغه توپیر و او په همدې باندې جنګ او اختلاف. دلږ څه غور او دقت وروسته زما روح په لړزه راغې ، ځکه چې زمونږ مسلمانان هم همداسې کوي نو که چیرې ته هم همداسې کوې نو همدا ګړئ توبه وکړه ، راځئ چې اوس د سپارښتنې په حقیقت باندې و ګړیږو.

دسپارښتنې حقیقت

دسپارښتنې په تکیه ولاړ د قدرت دغه شاهکار انسان هغه څه کوي چې (الامان و الحفیظ ). په وژلو او لوټولو کې مصروف وي او بیا د سپارښتنې په بنسټ په ډاګیزه توګه خوندي هم پاته کیږي. ددې علت دا دې چې په انسانانو کې کمزورتیاوې شته ، یو انسان د بل انسان له پاره اړتیا احساسوي نو په دې خاطر سپارښتنه که غلطه وي یا سهي ، په هر صورت منل کیږي ، خو د الله په ستر ذات چې د مطلق قدرت خاوند دې دا مثال نه عملي کیږي ، ځکه چې پر هغې د چا فشار نه شته ، الله تعالې د انسانانو څخه یوه پوښتنه کړې:

»ایا ستاسې غلام له تاسې سره په هغه رزق کې برابر شریکیدې شي چې مونږ تاسو ته درکړې دې ؟ایا تاسې د هغه څخه همداسې ویریږئ لکه څنګه چې په خپلو منځو کې یو دبل څخه ویریږئ ؟ په دې توګه مونږ د عقل او پوهې خاوندانو ته خپل آیتونه په څرګنده توګه بیانوو .» ( الزمر:۳۰/۲۸(

لږ څه غور وکړئ !چې تاسې د الله تعالې له اړخه په درکړل شوو اختیاراتو کې چې ستاسې خپل هم نه دي د هیچا مداخله نه شئ زغملې نو بیا د الله تعالې له پاره ولې داسې انګیرئ ؟الله تعالې خو د چا دسپارښتنې په منلو باندې مجبور نه دې. بلکه دهغه د اجازې پرته هلته څوک د چا په اړه سپارښتنه هم نه شي کولې. « هلته نبي او ولي ټول مجبور دي«

د الله د اجازې پر ته سپارښتنه:

»ټول هغه څه چې په اسمانونو او ټول هغه څه چې په زمکه کې دي ، ټول دهمغه دي ، څوک به وی چې دهغه تر مخه دهغه د اجازې پرته سپارښتنه وکړي؟ هغه په ټولو هغو چې دهغه تر مخه دي او یا دهغه تر شا دي ، ښه خبر دې.» (البقره:۲/۲۵۵(

حقیقت دا دې چې سپارښتنه خو دهغه چا په وړاندې کیږي چې په خپله کمزورې وي او ددې نه ویره لري چې که سپارښتنه مې و نه منله نو دا سپارښت کونکي به غمژن شي او ما ته به زیان را ورسوي. اویا کله چې زما ورته اړتیا پیدا شي نو بیا به زما کار نه کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library


بله لاره یې داده چې: د هغه چا تر مخه چې سپارښتنه کیږي د هغه معلومات ډیر محدود وی ، هغه ته ددې ویلو اړتیا وي چې ورته وښوول شي چې هغه څه چې ستا په علم کې نه شته هغه ما ته معلوم دي ، که چیرې ته زما په خبره باندې باور ونه کړې نو ته به تیرې کونکي و ګرځې. او دا به ډیره بې انصافي وي ، په دې اساس هغه ته په دغه سپارښت کونکې باندې باور کول اړین وي، هغه فکر کوي چې کیدې شي دغه سپارښت کونکې سهي خبره کوي ، خو الله تعالې ته داسې کمزورتیا نه شی منسوبیدای ،نوبیا د سپارښتنې حقیقت به څه وي ؟ لږ څه فکر وکړئ. الله تعالې فرمایی چې:

»ایا هغوې د الله پرته نور سپارښت کونکې نیولي ؟ ورته ووایه چې: که څه هم هغوې د هیڅ شي واک و نه لري او نه پوهه او درک ولري. ورته ووایه چې: سپارښتنه او شفاعت په پوره توګه د الله په واک او اختیار کې دي.» ( الزمر: ۳۹/۴۳-۴۴(

عام اعلان:

»اې نبي ! ورته ووایه چې: همغوې ته ورغږ کړئ چې تاسې (په خپل خیال کې )د الله پرته نیولي وو ، هغوې ته په اسمانونو اوزمکو کې د یوې ذرې په اندازه واک او اختیار هم نه شته. او نه هغوې ته په دې دواړو کې کومه برخه ورکړل شوې ده. او نه د هغوې څخه کوم یو د الله سره بسپنه کونکې ګرزیدې شي. هغه ته به د همغه شخص سپارښتنه ګټه ور رسوي چې الله یې اجازه ورکړي.» (سبا: ۲۳-۳۴/۲۲(

»د هغه د اجازې پرته هیڅ ډول سپارښتنه نه شته ، همدا الله ستاسې پروردګار دې ، په دې خاطر تاسې د همغه عبادت وکړئ ، ایا تاسې پند نه اخلئ؟» ( یونس: ۱۰/۳(

اجازه څه ته وایی ؟:

په دې خبره پوهیدل په کار دي چې اجازه څه ته وایی ؟ په داسې حال کې چې ما بیا بیا ولوستل چې پر الله تعالې باندې د هیچا او هیڅ لورې فشار نه شته او نه ځوک د هغه په امورو کې د مداخلې مجاز ګڼل کیږي او نه کومه سپارښتنه د هغه د اجازې پرته ګټوره ثابتیدای شي نو زما په فکر کې یوه پوښتنه را پیدا شوه چې دا اجازه به څه ته وایی ؟ او دا به څه ډول تر لاسه کیدې شي ؟ او الله تعالې ته د ورسیدو له پاره به د کومولارو څخه ګټه اخستل کیږي ؟

ماته ددې ټولو پوښتنو ځواب پخپله قرانکریم راکړ. او هغه ځوابونه به زه ستاسې تر مخ کیږدم ، خو د هغې څخه دمخه تاسې د هغو بخلکو په اړه لږ څه ولولئ چې هغوې د اجازې پرته سپارښتنه کړې وه ،نو د هغوې دې سپارښتنې هیڅ ډول ګټه ورته و نه شوه رسولې.

دنوح علیه السلام قصه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوح علیه السلام د الله تعالې نبي و. د هغه په قوم کې هم د شرک همغه ناروغتیا خپره شوې وه چې د مکې خلک پرې ککړ وو. په دې خاطر یې د هغوی اصلاح د نوح علیه السلام په غاړه کې وروا چوله. لکه چې الله تعالی فرمایي:

»بې له شکه مونږ نوح د هغه د قوم په لور ور ولیږه ، ترڅو خپل قوم د دردناکه عذاب د راتلو تر مخه وویروي.« (نوح: ۷۱/۱)

همدا راز د همدوې په اړه یو ځل بیا فرمایي چې:

»نو هغه د هغوی تر منځ پنځوس کم زر کاله (۹۵۰) کاله و اوسید« (العنکبوت:۲۹/۱۴)

که چیرې د دې نهه سوه پنځوس کالو څخه د هغه د ژوند لمړنی څلویښت کاله وویستل شي نو بیا هم نوح علیه السلام د خپل قوم تر منځ نهه سوه اولس کاله تبلیغ کړې دې او خپله ورسپارل شوې دنده یې تر سره کړې ده.( خود څلویښت کالو د مودې ویستل به ترې سهی نه وي ) اما د هغه د قوم سردارانو ډول او نغارې وهلې او ویل به یې چې:

»تاسې خپل معبودان مه پریږدئ ، تاسې خپل وود ، سواع ، یغوث ، یعوق او نصر مه پریږدئ« (نوح:۷۱/۲۳)

دغه پنځه نومونه د نوح علیه السلام د قوم نیک او صالح وګړي وو. چې د مړینې وروسته خلکو هغوی الله ته د ورسیدو وسیله وګرځوله. نوح علیه السلام تر ډیرې اوږدې مودې پورې د خپل قوم له اړخه ستونزې و ګاللې ، نوره یې دا په وس کې نه وه چې خپل قوم نیغې لارې ته را واړوی ،اویا یې څه ورکم کړي.د هغوی ټولې سختئ یې و زغملې ، نوربې چې د زغم نه خبره ووتله نو د الله تعالې په وړاندې یې فریاد وکړ چې

»:اې زما ربه ! بې شکه چې زه ډیر بې وسه یم ،اوس ته انتقام واخلې( زما نصرت وکړې )« (القمر:۵۴/۱۰)

بیا یې د خپل ټول ژوند پیښې بیان کړې او د الله په دربار کې یې عریضه وړاندې کړه او په اخر کې یې وویل چې:

»اې زما پروردګاره ! په زمکه باندې اوسیدونکې هیڅ کافر مه پریږده. بې له شکه ، که ته هغوی پریږدې نو هغوی به ستا بندګان بې لارې کوی او (په راتلونکې کې به ) یوازې فاجر کافر اولاد زیږوي ،

اې زما پالونکیه ربه !ما ، زما مور او پلار ،او هغوی چې زما کورته د مومن په څیر را ننوځي،هغوې ټول او ټولو مؤمنینو نارینه و اوښځو ته ښښنه وکړې او ظالمانو ته د هغوې په بربادئ او هلاکت کې ډیرښت راوړې« ( نوح:-۷۱/۲۵ ۲۶)

په دې اساس حکم وشو چې:

»ته زمونږ تر سترګو لاندې او زمونږ د وحې په مطابق یوه کشتۍ جوړه کړه ، د ظالمانو په اړه له ماسره خبرې مه کوه ، بې شکه چې هغوې به غرقیږي.« ( هود: ۱۱/۳۷)

بیا د هغه قوم ته هغه ورځ را ورسیده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



»نو مونږ د اسمان دروازې د سخت باران وريدو له پاره پرانستې ، او مونږ د زمکې څخه چينې را وويستې ، نو اوبه تر يوه امر پورې ، چې دمخه ورته ټاکل شوې و ، سره يو ځاې شوې« (القمر: ۱۲-۵۴/۱۱)

»ان تر دې چې کله چې زمونږ حکم راغي ، او ( داوبو ) تنور را وخوټيده ، نو مونږ حکم وکړ چې: په دې کشتۍ کې دهر ډول څخه دوه دوه جوړې دخپلې کورنۍ سره يو ځاې سپاره کړه ، پرته له هغه چا څخه چې دمخه يې په اړه پريکړه شوې ده. اود ايمان خاوندان هم په کې له ځانه سره سپاره کړه اودهغوې سره ډيرو لږو خلکو ايمان راوړې و.« (هود: ۴۰/۱۱)

لږ څه توجه وکړئ !نو تاسو به په خبره وپوهيږئ چې: د (اهل ) يا دخپلې کورنۍ د سپرولو دحکم په وخت کې ورته وويل شول چې دهغوې څخه به هغه څوک له ځانه سره نه سپروې چې عذاب ورته مقدر شوې دې. بيا يې ورته وفرمايل چې دظالمانو په اړه به زما سره خبره نه کوې. تاسې به حيران پاته شئ چې په هغو بدنصيبو کې د نوح عليه السلام خپل زوې هم موجود و. کله يې چې خپل زوې په خطر کې وکوت نو پلرنې شفقت يې دومره په جوش کې راغې چې د الله تعالې له اړخه پرې لګيدلې بنديز يې هم له ياده ووت. لکه چې فرمايي:

»او نوح خپل زوې ته ، چې د ټولو څخه جدا ځانته ولاړ و ، ورغږ کړ. اې زما زويه !له مونږ سره سپور شه او دکافرانو دډلې څخه مه کيږه. هغه ورته وويل چې زه ددې غره په لور پناه وړم ،هغه به ما د اوبو څخه خوندي کړي. ورته يې وويل چې: نن د الله د حکم څخه هيڅوک خوندي نه پاته کيږي ، پرته له هغوې څخه چې پر هغوې پخپله الله تعالې رحم کړې وي ، او بيا دهغوې تر منځ يو موج حائل شو او هغه هم دهمغو غرق کړل شوو خلکو له ډلې څخه وګرزيد. او بيا مو حکم وکړ چې اې زمکې خپلې اوبه را کاږه ، او اې اسمانه !اوبه دې بندې کړه، نو اوبه وچې شوې او کار پاې ته ورسيد ، او کشتۍ د جودي دغره دپاسه ودريده اوويل شول چې په ظالمانو دې لعنت وي.«( هود: ۴۲-۴۴/۱۱)

خو پلرنۍ مينه او شفقت همغسې په خپل ځاې پاته و ،او نوح عليه السلام د الله تعالې په مخکې داسې فرياد کونکې و:

»اې زما ربه !بې شکه چې زما زوې هم زما داهل څخه دې او ستا وعده هم حق ده او ته د حاکمانو حاکم يې. په ځواب کې ورته وويل شول چې اې نوحه !هغه ستا داهل څخه نه و. ځکه چې هغه د ناوړه عمل خاوند دې. نو دهغه څه په اړه چې تاته علم نه وي له ما څخه مه پوښته. زه تاته نصيحت کوم چې ته دناپوهانو څخه نه شې. عرض يې وکړ چې اې زما پروردګاره !زه دهغې خبرې د غوښتو څخه چې په اړه يې ماته علم نه وي له تا څخه پناه غواړم ،که چيرې ته ماته ښننه و نه کړې او پرما خپل رحمت و نه کړې نو زه به د زيان کارانو له ډلې څخه و ګرزيږم.« ( هود: ۴۵-۴۷/۱۱)

اوس مو وليدل چې دالهي په نظام کې هر څوک بې وسې دي ، نه يې کفارو ته سزا ورکول په وس کې و او نه يې دخپل زوې دخلاصون وس رسيده. دا پرته له اجازې سپارښتنه وه او دا يې پايلې وې. په دې ځاې کې زما عقيده تار تار وګرزيده ، چې د يارانو خبره ياران مني ، خو د الله په اړه دا خبره بلکل غلطه ده. بلکه د الله تعالې په اړه د (يار) د لفظ استعمالول هم بې ځايه او غلط کار دې. هيڅوک هغه نه شي مجبورولې. دلته مونږ يې چې دهر مفت خوړونکې ملنګ پورې خپلې هيلې ګنډه کوو. په دې اړه هم څه فکر کول په کار دې چې د نهه نيم سوه کالو راهيسې تبليغ کونکې نبي عليه السلام دخپلو د زړه د غوښو د خلاصون په خاطر په الله تعالې باندې خپله خبره و نه شوه منلې ، نو دهغو خلکو څخه به څه هيله وکړل شي چې پخپله هم صفر دي اود نورو له پاره هم صفر دي ، لږ څه د انصافه کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخلئ او که چیرې خبره مې غلطه وکړه نو ما پرې خبر کړئ ،خو بې ځایه تینګار به نه کوئ ، ددې ډله پالنې او ناپوهی د خول څخه ځانونه را بیرون کړئ په قران کې غور او تدبر وکړئ او د تعصب څخه خپل رب ته پناه یوسئ.

یوه بله غلطه انګیرنه هم را پیدا کیږي او هغه دا چې: نورو انبیاؤ ته خو اختیارات نه شته خو زمونږ نبي صلی الله علیه وسلم د ټولو انبیاؤ امام دې ، هغه دټولو اختیاراتو خاوند ګرځول شوې دې. نو په دې خاطر دهغه روح ته په غږ کولو سره داړتیاو وړاندې کول روا دی. په دې لړ کې د قران کریم په دې آیت لږ څه غور وکړئ، الله تعالی د خپل پیغمبر په خوله وایی ترڅو د امت په ذهنونو اوفکرونو کې اصلاح راشي.

»ورته ووایه چې: زه د الله د مشیت او ارادې پرته دخپل ځان له پاره هم د ګټې او تاوان واک نه لرم.« (الاعراف: ۷/۱۸۸)

د یونس په سورت کې هم همدا ډول حکم په ۴۹ م آیت کې راغلې دې.

بیا د دواړو جهانونو د سردار ژوند ته یو ځغلنده نظر وکړئ ! نو ددې آیتونو ریښتونوالې به درته را څرګند شي. دنمونې په توګه: انس رضی الله عنه وایی چې زه درسول الله صلی الله علیه وسلم سره یو ځاې د ابو سیف کور ته ولاړم ، هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دزوې ابراهیم «رض» د دایې( رضایی مور ) میړه و . رسول الله صلی الله علیه وسلم ابراهیم په خپله غیږ کې را واخست، هغه یی ښکل کړ او بوې یی کړ یعنې خپله پوزه او خوله یی دهغه په خوله باندې داسې کیښوول لکه څوک چې یو شی بوی کوي. ددې نه څو ورځې وروسته یو ځل بیا د ابو سیف کور ته ورغلو . په دې وخت کې ابراهیم «رض» د نزع په حال کې و ، د هغه په کتلو سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارکو سترګو څخه اوښکې را روانې شوې ، عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه ورته وویل چې: اې دالله رسوله: ته هم ژاړې ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې: اې د عوف زویه ! دا د رحمت اوښکې دي. ددې خبرې وروسته درسول الله صلی الله علیه وسلم د سترګو څخه یو ځل بیا اوښکې را روانې شوې اوبیا یی وفرمایل چې:

»سترګې اوښکې تویوي ، زړه غمژن دې ، خو مونږ به په خپله ژبه همغه خبره کوو چې زمونږ پروردګار پرې راضي ګیږي ، اې ابراهیمه ! بې شکه چې مونږ ستا په بیلتون باندې غمګینه یو «.

) صحیح البخاري ، باب قول النبي صلی الله علیه وسلم ، انا بک لمحزونون ، ۱۳۰۳ م حدیث(

دا دې الله او دا دې د الله بنده. چې دهغه د مشیت او ارادې په وړاندې بلکل بې وسه دې. زه تر یوه وخته پورې په همدې فکر کې ډوب وم چې یو اوچت ځاې ته د ورختلو له پاره زینې ته اړتیا وي ، نو د کوم یو ستر شخصیت ته د ور رسیدو له پاره باید یو مناسب چینل **proper Channel** موجود وی. اخر الله ته د ورسیدو له پاره به همدا بزرګان یو مناسب چینل **proper Channel** وی ، دهغه د اجازې د ترلاسه کولو له پاره به هم یوې وسیلې ته اړتیا لیدل کیږي. هغه وسیله به زه هرو مرو تاسو ته در وښایم. خود هغې تر مخه د نبي صلی الله علیه وسلم د ژوند یو څو پیښې په لنډه توګه درته بیانوم.

- د احد په جنګ کې زیات شمیر مسلمانان په شهادت ور سیدل ، په دې ډله کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم خوږ کاکا سیدنا حمزه رضی الله عنه هم شهید شو . رسول الله صلی الله علیه وسلم دا غم تر اخره پورې له یاده و نه ویوست. دهغه قاتل وحشي رضی الله عنه مسلمان شو خو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هيڅکله هم زما په وړاندې مه راځه ، ځکه ستا په کتلو سره ماته خپل کاکا تر سترګو کيږي. په دې جنګ کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم غاښ مبارک هم شهيد شو او ډيرې ضربې يې هم وخوړلې. دا ټول د الله مشيت او اراده وه او که نه څوک به دداسې مصيبتونو د زغم شوق ولري ؟

• رسول الله صلی الله عليه وسلم طايف ته د تبليغ له پاره ولاړ ، زيد بن حارثه رضی الله عنه ورسره ملګرې و .د طايف سرداارانو د رسول الله صلی الله عليه وسلم بلنه و نه منله. بلکه د هغه پر خلاف يې د هغه ځاې بد سلوکه ځوانان را وپارول ، هغوې د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر خلاف بد ه ژبه کاروله او د هغه مبارک ذات يې په کاڼو او تيږو ويشته ، ان تر دې چې د هغه مبارک وجود زخمې شو او دومره وينې ترې و بهيدې چې پڼې مبارکې يې د وينو څخه ډکې شوې ، د رسول الله صلی الله عليه وسلم زړه ووېريد خو هغه بدمعاشو هغه کيناستو ته هم پرې نښود او د تيږو د ويشتلو په بدرګه يې د هغه ځايه تللو ته مجبور کړ .دا و د الله تعالې مشيت او دا و د هغه د بنده مجبوري چې د هغه د مشيت تر مخه يې درلوده. د دې نه علاوه نورې ډيرې پيښې د دې آيتونو رښتونولې ثابتوي ، خو د لنډيز په خاطر يې نشم بيانولې.

دېوې غلطې انګيرنې سهی کول:

زما يو دوست زما ذهن په يوه عجيب فکر کې ډوب کړ. تاسې بايد د هغې څخه ځانونه خوندي وساتئ. هغه دا چې هغه خو نبي و ، د هغه معامله د الله سره ده. د هغه له پاره چې الله څه وغواړي وکړي کوي يې. ځکه د هغه سپارښتنه به همغه څوک کوي چې د هغه څخه پورته وي ، زمونږ له پاره خو به همغه سپارښتنه کوي ،هغه زمونږ له پاره وسيله ده ، په دې اړه زما د غه غلطه انګيرنه قران کريم داسې سهي کړه:

»اې نبي ! دوې ته ووايه چې: زه تاسې ته د هيڅ ډول ګټې او يا زيان د درسيدو واک نه لرم « .

)الجن: ۷۲/۲۱(

د دې تصديق ماته په دې ډول تر لاسه شو چې د منافقينو رئيس عبد الله بن ابي ومړ ، هغه په څرګنده توګه په خپل ژوند کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د خوشحالو لو هڅه کوله ، رسول الله صلی الله عليه وسلم د مرګ په وخت کې ورته خپل مبارک کميس هم ور واغوست ، د هغه د جنازې لمونځ يې هم ادا کړ او هغه ته يې د بښنې له پاره دعا هم وکړه. خو څرنګه چې د الله تعالې اجازه نه وه نو په دې خاطر د دواړو جهانونو سردار ته د الله تعالې له اړخه دا ځواب وويل شو:

»که چيرې ته د هغه له پاره بښنه وغواړې او که و يې نه غواړې (برابره ده ) ،بلکه که ته د هغه له پاره اويا ځلې هم بښنه وغواړې بيا به هم الله هغه ته بښنه و نه کړي» ( التوبه: ۹/۸۰(

»د نبي او د ايمان د خاوندانو سره هيڅکله هم نه ښايي چې د مشرکينو له پاره د بښنې دعا وکړي ،که څه هم هغوې د دوې نژدې خپلوان وي ، په داسې حال کې چې دا ډاګيزه وی چې هغوې د دوزخ د اور خاوندان دي. (التوبه: ۹/۱۱۳(

بيا يې وفرمايل چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



»که چيرې د هغوې څخه کوم يو ومري ، نو د هغوې د جنازې لمونځ مه کوئ ، بلکه د هغې په قبر باندې هم مه درېږئ« (التوبه: ۹/۸۴)

بل اړخ:

دا خو د اجازې پرته د خير اراده وه چې پوره نه شوه . او س يې دا بل اړخ ووينئ . نبي صلی الله عليه وسلم د يوه قوم د غوښتنې په اساس د هغوې د ښوونې او روزنې له پاره د هغوې سره اويا کسه قاريان و استول . دا د هغه قوم له اړخه يو جال و ، هغوې دا قاريان ټول شهيدان کړل ، رسول الله صلی الله عليه وسلم ته د دې ظلم او تيرې خبر را ورسيد نو هغه صلی الله عليه وسلم ډير غمگين شو او يوه مياشت يې په پرلپسې توگه د سهار په لمانځه کې د قنوت نازله د لوست په وخت کې د دې ظالمانو له پاره بد دعاوې کولې ، او د خپلو بنديانو د راپريښولو له پاره يې لاسونه د الله دربار ته غځول . د هغه صلی الله عليه وسلم الفاظ دا و چې:

»اې الله ! وليد بن وليد ، سلمه بن هشام او عياش بن ابو ربيعه ته خلاصون په برخه کړې ، اې الله ! ته په دغه مضر قوم باندې خپل سخت عذاب نازل کړې او دا عذاب پرې د قحط په شکل کې را نازله کړې دا سې قحط چې د يوسف عليه السلام د وخت د قحط په څير وي ( يعنې اوه کاله په پرلپسې توگه .)

تاسو غور وکړئ چې نبي صلی الله عليه وسلم څومره غمژن او قهريدلی و چې دا بد دعاوې يې په لوړ اواز سره کولې: « اې زما ربه ! ته په فلان او فلان باندې لعنت وکړه » (صحيح البخاري ، الفسير ، باب ليس لک من الامر شیء ، ۴۵۲۰م حديث)

يعنې رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغو عربو قبيلو نوم اخسته چې په قتل کې شريک و ، دا بد دعاوې تر هغې پورې جاری وې تر څو چې دا حکم راغې:

»اې نبي ! په دې معامله کې تا ته هيڅ ډول اختيار نه شته ، که چيرې الله وغواړي نو هغه خلک ښنلې هم شي او عذاب ورکولې هم شي ،بې شکه چې هغوې ظالمان دی ، په زمکه او اسمان کې هر څه د الله له پاره دي ، هر چا ته چې هغه وغواړی ښښنه کولې شي او چا ته چې وغواړی عذاب ورکوي او الله ډير زيات ښښونکې او مهربانه دې.«العمران : ۱۲۹-۳/۱۲۸)

د دې آيت څخه:

خدا کا بکړا چهرالې محمد(ص) محمد(ص) کا پکړ چهړا کويی نهين سکتا

د دې شعر حقيقت هم په پوره توگه را څرگنديږي ، ځکه چې نبي صلی الله عليه وسلم غوښتل چې ځان ترې خلاص کړي خو خلاص يی نه شو کړې او غوښتل يی چې هغوې ونيسي خو وي يی نه شو نيولې ، دا الله مقام هغه دې او د بنده مقام دا دې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ددې خبرې د کولو تر مخه چې د الله له اړخه اجازه څه ته وایی ، او دا اجازه څه ډول شوني ده ، زه دا اړینه ګڼم چې تاسې د یوه بل سر درد څخه بیرون وکاږم. او هغه دا چې د قبر خاوند ، دبت خاوند یا د ځای او کور خاوند چې ددې مادي ژوند د قیودو څخه ازاد شي او د الله تعالی میلمه وګرځي نو هغه زمونږ ددعاګانو ، چغو او مناجاتو څخه بې نیازه او بې خبره ګرځي. البته هغوي زمونږ د اخلاص نه د ډکو دعاګانو له پاره اړتیا لري ، په دې خاطر مونږ د جنازې په لمانځه کې د هغوي له پاره دعاګانې کوو.

د مړینې نه وروسته سپارښتنه:

ډیر شمیر عالمان د قران کریم دوه ایتونه ددې ثبوت له پاره وړاندې کوي چې شهید ژوندي دي ،په دې خاطر د هغوي څخه کومک غوښتل او د هغوي په واسطه سپارښتنه کول روا دی. زه د لنډیز په خاطر په دې آیتونو باندې بحث کول نه غواړم مګر دومره هرو مرو ویل غواړم چې د الله د اجازې پرته دژوندیو د سپارښتنې پایلې څه شوې ؟ تاسو هغه تړلې وکتلې ، اوس دغه څو پیښې په لاندې توګه وړاندې کوم تر څو غلطې انګیرنې له منځه ولاړې شي او د مرګ نه وروسته دژوندانه انځور ستاسو په ذهنونو کې را وڅرخي.

د کهف د اصحابو قصه:

دا دهغو ژوندیو اولیاو قصه ده چې په خپل ژوند کې دزمکې په سطحه باندې درې سوه نهه کاله ویده شوي وو. هغوي به دستومانتیا په وخت کې خپل اړخونه بدلول ، خو کله چې الله تعالی هغوي دخوبه را ویښ کړل نو د زمانې او وخت د بدلون دحالاتو څخه بې خبره وو . دا قصه د قران په ژبه ولولئ او ویی واورئ ، لکه چې الله تعالی فرمایی:

»ایا تاسې ګمان کوئ چې دغار ملګري ( اصحاب غار ) او دکتبو خاوند ان( هغه ځوانان چې د خپل ایمان د خوندي ساتلو په خاطر یې په دغه غار کې پناه اخستې وه او بیا یې په غار باندې دیادګار لیکنه وشوه ) ، زمونږ د نښو څخه یو عجیبه نښه وه ؟ ( الکهف: ۱۸/۹(

او بیا فرمایی چې:

»مونږ دهغوي حال په سهي او څرګنده توګه تاته بیانوو ، بې شکه چې هغوي یو څو ځوانان وو ، چې پر خپل رب یې ایمان راوستې و ، اومونږ هغوي ته په لارښوونه اوهدایت کې نور هم ډیرښت راوست. هغه وخت چې هغوي ( د جابر حکمران په دربار کې ) و دریدل نو مونږ دهغوي زړونه کلک کړل ، کله چې هغوي و دریدل نو ویی ویل چې: زمونږ پروردګار خو هغه دې چې د اسمانونو اوزمکو پروردګار دې. مونږ دهغه نه علاوه بل کوم معبود نه را بولو ، ( که چیرې مونږ دا سې وکړل )نو دا به د عقل نه لرې خبره وي. دا خو زمونږ دا قوم دې چې دهغه پرته یې نور معبودان نیولي دي. ولې بیا دخپل دغې کار له پاره څرګند دلیل نه را وړاندې کوي ؟ دهغه چا څخه به بل سترظالم څوک وي چې په الله پورې درواغ و تړی ؟» الکهف: ۱۵-۱۸/۱۳(

دا خبرې دغه د الله دوستان دهغه جابر حکمران په دربار کې ، چې وقیانوس نومیده ، ولاړ دی او کوي یې. هغوي یې ددې حکمران دربار ته د توحید ویلو په جرم را وړی و . الله تعالی د هغوي حوصلې ورکلکې کړې اودهغوي په زړونو کې یې دا خبره ور واچوله چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library


»کله چې تاسې د دې خلکو او د الله پرته د هغوې د نورو معبودانو څخه جدا شوئ نو په غار کې پناه واخلئ تر څو ستاسې پروردګار ستاسې له پاره د خپل رحمت لمنه پراخه کړي او ستاسې له پاره د هغې څخه د ارام وسايل را پيدا کړي.« ( الکهف: ۱۸/۱۲)

ويل کيږي چې باد شاه د کوم مصلحت له مخې او د خپلو مصروفياتو په اساس د غه کار تر يوه وخته پورې شاته وغورځواه ، دغه د الله دوستان د دې ځاې څخه د وتلو سمد ستې وروسته هغه غار ته پناه راوړه چې الله تعالې د هغوې په زړونو کې القا کړې و . د هغوې سره د هغوې يو وفاداره سپې هم روان و ، کله چې دوې غار ته ور ننوتل نو د ډاډ ساه يې واخسته او بيا يې دا دعا ولوستله:

»اې زمونږ پروردګاره ! پر مونږ د خپله اړخه رحمت را نازل کړه او مونږ ته زمونږ په امورو کې سهي لار ښوونه وکړه « ( الکهف: ۱۸/۱۰)

دوې د ويرې او ستومانتيا په اساس هملته پريوتل او ويده شول ،الله تعالې د هغوې کيفيت دا ډول بيانوي:

»په دغه غار کې مونږ تر څو کالو پورې د هغوې په غوږونو باندې پرده را غوړولې وه .«( الکهف:۱۸/۱۱)

»او لمر به د را ختولو په وخت کې ووينې چې د غار ښې لورې ته ميلان کوي او کله چې لويږي نو پريږدې دوې کيڼ لورې ته او دوې د دې غار په ارت ميدن کې دی ، دغه ( ياد ونه ) د الله د قدرت د نښو څخه ده ، الله چې هر چا ته سمه صافه لاره ور وښووله نو همغه د سمې صافې لارې موندونکې دې او هر هغه څوک يې چې بې لارې ( ګمراه ) کړ نو د هغه له پاره به هيڅ ولي او دوست لاره ښوونکې و نه مومې.

او ته به ګمان کوې په دوې ويښ دي حال دا چې دوې ويده دي، او مونږ دوې په ښې او کيڼ اړخ اړو را اړوو ، او د دوې سپې ( د غار په خوله کې ) د دواړو څنګلو په غځولو سره د زمکې په مخ پروت دې ، نو که چيرې ورپورته شې ته دوې ته او دوې ووينې نو هرومرو به ته د دوې څخه په تيښته را وتښتې ، او هرو مرو به د هغوې ويره پر تا را خپره شي.«( الکهف:۱۸-۱۸/۱۷)

هغوې همداسې په پوره ډاډ سره ويده و ، ان تر دې چې:

» هغوې په دې غار کې د درې سوه او نهه کالو څخه ډيره موده پراته و « ( الکهف: ۱۸/۲۵)

او بيا يې وفرمايل چې:

»او په دې توګه مونږ هغوې را بيداره کړل تر څو پخپلو منځو کې يو د بل څخه وپوښتې . د هغوې څخه يوه وپوښتل چې: څومره موده وشوه چې ويده شوې يې ؟ يوه ورځ او يا د يوې ورځې لږ څه برخه ، بيا يې وويل چې ستاسې پرورګار ښه پوهيږي چې تاسې څومره موده ويده شوي ياست. راځئ د خپلو ملګرو څخه يوه ته دا پيسې ورکړئ او ښار ته يې و ليږئ چې کوم خوراک پاکيزه وي نو د همغې څخه دې يې تاسو ته راوړي ، خو هغه ته په کار ده چې نرمې خبرې وکړي او ستاسې په اړه هيچاته هم څه و نه وايي . هغوې خو داسې خلک دي چې که پر تاسې باندې غالب شول نو تاسې به د تيږو په ويشتلو باندې ووژني او يا به مو بيرته خپل مذهب ته ور واړوي نو بيا به هيڅکله هم تاسې بريالي نه شئ. ( الکهف:۲۰-۱۸/۱۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library


لږ څه غور وکړئ چې هغوې درې سوه او نهه کاله هلته په غار کې ویده وو . هغوې د زمکې په مخ ساه هم اخسته ، اړخونه یې هم بدلول ، خو د دنیا او ددنیا دشیانو څخه دومره بې خبره و چې دا احساس هم ورته نه و پیدا شوې چې څومره پسرلي یې په سر تیر شوې دی او خزان شوي دی او دتاج او تخت څومره خاوندان له منځه تللي او خاوري شوی دی، هغوې خطر ونه محسوسول خو هغوې ته دا ډاګیزه نه وه چې دهغه چانه چې دوې تښتیدلی و هغه ډیره موده مخکې ددې دنیا څخه تللې دې او پاته خلک ددوې درنښت کونکې او همدرده دي ، دا دزمکې په سر د ژوندیو ویده شوو اولیاؤکرامو حال و ، نو بیا به څوک څه ډول وو ایی چې د زمکې تر منځ د ډیرې ډیرې خاورو او ښختو لاندې پروت ، د الله کوم دوست به ، چې دالله ځانګړې میلمه هم وي ستا د حالاتو ،او ستا د ستونزو او مشکلاتو څخه خبر او سي. الله دې مونږ د قران د توحید د نظریې سره اشنان کړي. امین.

د عزیر علیه السلام قصه:

په فریب او دوکه کې اچونکي دې تا په دوکه و انه چوي ، ځکه چې دا خوب دې خو دمړینی وروسته بنده د الله تعالې سره یو ځای کیږي هغه زمونږ د حالاتو څخه ښه خبر دې او زمونږ ه سپارښتنه به کوي......

راځئ دیوه نبي سیدنا عزیر علیه السلام قصه واورئ ، هغه په یوه خره باندې سپور په سفر روان و چې مرګ پرې راغې ، هغه نژدې یو کال هلته مړ پروت و او بیا را ژوندې کړل شو ،خو هغه د زمانې دبدلونونو څخه بې خبره و. الله تعالې و فرمایل چې:

»او یا دهغه چا په څیر چې په یوه وران ویجاړ کلي تیریده ، هغه وویل چې الله څه ډول دوې دمړینی وروسته را ژوندي کوي نو الله هغه هم دمرګ په خوب ویده کړ او تر سلو کالو پورې مړ پروت و . بیا یې هغه را ژوندې کړ ، دهغه څخه وپوښتل شو چې ته په دې حال کې څومره پاته شوې یې. ورته یې وویل چې یوه ورځ ، یا دیوې ورځې یوه برخه. ورته وویل شول چې ته سل کاله دلته په همدې حالت کې پروت وې. اوس نو ته دخپل خوراک څښاک شیانو په لور ووینه ، هغه خراب شوي نه دي ، دخپلې سپرلۍ (خره ) په لور ووینه ،مونږ تا دخلکو له پاره ننبه ګرځوو ، او دهغو هډوکو په لور ووینه ، چې مونږ څه ډول هغه بیرته جوړوو او په غوښه او پوستکي یې پټوو.» (البقره: ۲/۲۵۹)

که چیرې تاسې په دې پیښو لږ څه فکر وکړئ نو په دې خبره به و پوهیږئ چې دمړینې د پیښیدو وروسته ددې نړۍ سره دهر نبي او بزرګ اړیکي پری کیږي، هغوې زمونږ چغې او سورې نه شی اوریدلې او نه زمونږ فریاد ته را رسیدلې شی.

بده یې مه ګڼئ بلکه فکر پرې وکړئ او قران ولولئ. په دې کې ستاسو له پاره ګټه ده ، په غصې کې تاسې ته هیڅ ډول ګټه نه شته ، راځئ اوس یو ځل دا ولولئ:

»دهغه وګړي څخه به ډیر ګمراه او لار ورکې څوک وي چې د الله پرته هغو ته غږ کوی چې د قیامت تر ورځې پورې د هغې غږ نه شي قبلولې اوهغه د دوې د چغو او سورو څخه هم بې خبره دي ، بیا نو په کومه ورځ چې خلک سره راټول کړل شي نو هغه به ددې ورغږ کونکو دښمن وي اودهغوې د عبادت څخه به انکار کوي.»(الاحقاف:۲۴/۵-۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږ څه غور وکړئ ! بلکل ډاګیزه کیږی چې ددې څخه یو اځې بت مراد نه دي بلکه ټول هغه شخصیات ترې مراد دي چې کوم بت یا قبر ورته منسوبیږي. او خلک ورته په پوره عقیدې او ګروهې سره غږ کوي که چیرې یقین مو نه راځی نو بیا دقران کریم دا ځاې ولولئ ، لکه چې فرمایي:

»ایا دا خلک هغوې د الله سره شریکان جوړوی چې نه څه پیدا کولې شي بلکه په خپله پیدا شوي دي ، هغوې ددوې سره دکومک کولو توان هم نه لري او نه دخپل ځان له پاره څه کولې شي«.

)الاعراف:۱۹۲-۷/۱۹۱(

»بې شکه ، هغوې چې تاسې د الله پرته را بولئ ،هغوې هم ستاسې په څیر بندګان دي ، نو تاسو هغوې را وبولئ او وینئ که چیرې ریښتوني یاست ، چې هغوې به ستاسې بلنه و مني ، ایا هغوې پښې لرى چې پرې ولاړشی ؟ایا هغوې لاسونه لري چې پرې نیول وکړاې شي ؟ایا هغوې سترګې لرى چې پرې وکتلې شي ؟ایا هغوې غوږونه لرى چې پرې واوریدلې شي ؟» ( الاعراف: ۱۹۵-۷/۱۹۴(

فکر وکړئ ! چې دداسې وګړې څخه بل د رحم وړ څوک وي چې د مطلق قدرت خاوند الله له یاده و کاږي او هغو بزرګانو ته چغې کړي چې زمونږ په څیر بندګان دي ، خو دهغوې غړی کار نه کوي ، دا بت نه دې بلکه( عباد امثالکم ) ستاسې په څیر بندګان دي... بیا یې وفرمایل:

»او د الله نه پرته چې کوم خلک دوې را بولې هغوې هیڅ شې هم نه شي پیدا کولې بلکه هغوې پخپله پیدا کړل شوي دي ، هغوې مړه دي ، ژوندي نه دي ، او هغوې په دې هم نه پوهیږی چې کله به را پورته کیږي.» (النحل:۲۱-۱۲/۲۰(

دبتانو خو د راپورته کیدو پوښتنه هم نه را پیدا کیږي. په دې اساس دا همدا بزرګان دی ، هغوې ته دا معلومه هم نه ده چې هغوې ته د را بللو له پاره اوازونه کیږی ، هغوې به دقیامت په ورځ یو اځې انکار نه کوي بلکه جنګ جنګړه به هم کوي. لکه چې فرمایي:

»او په هغه ورځ به مونږ دوې ټول سره رایوځاې کړو ، بیا به شریک جوړونکو ته ووایو چې تاسې او ستاسې شر یکان دې په خپلو ځاېو کې و دریږي ، بیا به مونږ هغوې چې د الله سره یې شریکول ، سره جدا جدا کړو ، هغوې به ورته ووایي چې تاسې هیڅکله هم زمونږ عبادت نه دې کړې ، زمونږ او ستاسې تر منځ یو اځې الله د ګواه په څیر کافي دې چې بې له شکه چې مونږ ستاسې دعبادت څخه بلکل بې خبره وو .» ( یونس: ۲۹-۱/۲۸(

الله تعالې دې وکړي چې اوس تاسې پوه شوي یاست ، چې دا جګړه کونکي به بوتان نه وي بلکه همدا بزرګان به وي ځکه چې الله تعالې دهغوې څخه هم ځواب غواړي او هغوې به دخپل ځان دپاکوالې دثابتولو په خاطر جګړه کوی.

»په هغه ورځ چې د الله پرته د نورو دعبادت کونکي او دهغوې معبودان به الله سره را ټول کړي نو هغوې ته به ووایی چې: ایا تاسو زما دا بندګان بې لارې کړی وو یا دوې په خپله بې لارې شوي و .؟ هغوې به ځواب ورکړي چې ستا ذات خو دهر څه څخه پاک دې ، له مونږه سره پخپله دا نه ښایي چې ستا پرته بل څوک خپل کارساز و ګڼو خو ته پخپله هغوې ته او دهغوې پلرونو اونیکونو ته ګټه ور رسوې. ان تردې چې دوې ستا یادول هم هیر کړل او دوې یو هلاک کیدونکې قوم و ګرزید.( بیا به الله تعالې مشرکانو ته ووایی چې: اې مشرکانو ! ) هغه دعوې چې تاسې یې نن کوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library


په هغې کې خو هغوې تاسې دروا غجن ګڼي ،بيا به تاسو دالله د عذاب مخ هم و نه شئ اړولې او نه به تا سو ته کوم ملاتړې ، بسپنه کونکي او مدد رسونکې وي.»( الفرقان: ۱۹-۲۵/۱۷(

زما ورونو !ايا تاسې اوس هم دا ګمان کوئ چې هغه بزرګ نه دې بلکه بت دې !اوس به ديوه بزرګ دنوم په اخستلو سره ستاسو دا شک هم ورک کړم ، لکه چې الله تعالې فرمايې:

»کله چې الله ووايې چې: اې عيسې ابن مريم !ايا تا هغوې ته ويلي و چې ما او زما مور دالله نه علاوه خپل کار جوړونکې و نيسئ ؟ هغه به ځواب ورکړي چې: ستا ذات خو پاک دې ، ماته دا نه ښايي چې دا سې خبره وکړم چې دکولو حق يې نه لرم.که چيرې ما کړې هم وايې نو تاته به يې علم و.ځکه چې ته زما د زړه په خبره پوهيږې خو زه ستا دزړه په خبره نه پوهيږم ، بې شکه چې ته په غيب پوهيدونکې يې. ما هغوې ته ددې پرته نور څه نه وويلي دڅه په اړه چې تا حکم کړې و اوهغه دا چې د الله عبادت وکړئ، هغه چې زما او ستاسو پروردګار دې ، تر هغو چې زه دهغوې تر منځ وم ، ما هغوې څارل ، خو کله چې تا زه دنړۍ څخه پورته کړم نو بيا خو دهغوې څارونکې همته يې. بې شکه چې د هر څه څارونکې او ليدونکې ته يې « .

)المائده: ۱۱۷-۵/۱۱۲(

نو څوک چې اوس هم پرې نه پوهيږې نو دهغه به څه علاج وي ؟ما ويلي و چې په نړۍ کې هيڅوک بت پاله نه شته. د بت د عبادت څخه يې مراد د اصل بزرګ عبادت دې. خو دمړينې وروسته هيڅ بزرګ زمونږ د حالت څخه خبر نه دې. دا بزرګ به زمونږ دعبادت څخه انکار کوی او دخپل ځان دپاکوالي په خاطر به جګړې کوی. لکه څنګه چې عيسې عليه السلام وويل.

زما مسلمانانو ورونو !لږ څه فکر وکړئ چې مونږ څه کوو؟ مولانا حالي څومره ښه ويلي دي.

»هغوې چې د بت عبادت کوي نو کافر ګڼل کيږي ، او که څوک خدا اې ته زوې ثابت کړي هغه هم کافر دی ، که اور ته خپله قبله وايې نو هم کافر ګڼل کيږي او که په کواکبو کې کرشمې لټوي هم کافر دي

خو مؤمنانو ته لارې پرانستې دي، د چاد عبادت له پاره يې چې شوق کيږي هغه کوي!

که غواړی نو د نبی څخه خدا اې جوړوي ، او د امامانو رتبې دنبيانو څخه هم لوړوی ،

شپه اوورځ په زيارتونو باندې څادرونه نذر کوي او دشهيدانو قبرونو ته ورځې او دعاګانې ترې غواړي.

ددوې په دې کار نه دهغوې په توحيد کې کوم خلل پيښيږي،نه يې اسلام خراب شي او نه يې ايمان زيانمنيږې« !!

دمشرک مثال:

که په پورته ايتونو لږ څه غور وکړئ نو په دې خبره به پوه شئ چې شرک څه ته وايې او توحيد څه شې دې؟ دمشرک عقيده په کوم پوخ بنسټ نه وی ولاړه ، بلکه هسې په واهياتو او بې بنسټه شيانو ولاړه وي. خو مشرکان بيا همدا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله ځانه جوړه شوې باطله او واهي عقیده خپل معراج ګڼي او په همدا سې مشرکانه خبرو کې خپل ژوند تیروي ، چې تر اخره پورې یې هدایت نه په برخه کیږي. الله تعالی د مشرک مثال داسې بیانوي:

»هغو خلکو چې د الله نه پرته یې نور ملاتړي نیولي دي دهغوې مثال د غڼې په څیر دې چې کور جوړوي ، او تر ټولو ډیر کمزورې کور د غڼې کور دې ،کاشکې دوې پرې پوهیدلې.»(العنکبوت:۲۹/۱۴(

لږ څه ژور فکر وکړئ ! لکه څنګه چې غڼه د خپل وجود د داخل څخه مواد راباسي او خپله جاله پرې جوړوي نو په همدې توګه مشرک هم د خپل ځان د داخل څخه د خیالاتو او وهمونو نه ډکه یو عقیده جوړوي، او لکه څنګه چې غڼه په خپل هغه کمزورې کور کې کیني او فکر کوي چې په یوه ډیره مضبوطه او مستحکمه کلا کې ناسته ده نو په همدې توګه مشرک هم د خپله ځانه د جوړو شوو خدایانو په وهمونو کې ناست وي او هغه د خپل ځان له پاره د کلکو دیوالونو یوه مستحکم پناه ځای ګڼي. او لکه څنګه چې دیوې غڼې جاله د باد دیوې څپې سره له منځه ځي په همدې توګه د توحید د یوه ګذار سره سم د مشرک هغه د وهمونو ډک خیالات هم دوړې وړې کیږي. فکر وکړئ چې شرک څه شې دې ؟ او دهغې پایلې څومره ناهیلې کونکې دي؟ الله تعالی د مشرک د مثال د بیانولو په لړ کې فرمایي چې:

»اې خلکو ! ستاسو له پاره یو مثال ذکر کیږي ، هغه په غور سره واورئ ! د الله نه پرته ټول هغه څوک چې تاسې یې ر ا بولئ هغوې یوه مچ هم نه شي پیدا کولې که څه هم هغوې ټول د دې کار له پار ه سره راټول شي . ( بلکه هغوې دومره بې وسه دي ) چې که چیرې مچ ترې څه یوسي نو بیرته یې ترې را ستنولې نه شي ، غوښتونکې هم کمزورې او د چانه چې غوښتل شوي هغه هم کمزروې او بې وسه دې. حقیقت دا دې چې دې مشرکینو د الله قدر نه دې پیژندلې ، بې شکه چې الله دډیرزیات قدرت خاوند او په هرشي غالب دې.» ( الحج: ۷۴-۲۲/۷۳(

دې خلکو ته بیابیا فکر کول په کار دې او سمد ستې ورته توبه کول په کار دي چې د ( یاعلي مدد ، یا مشکل کشا ، یا شیخ عبدالقادر جیلاني... ) او نورو له پاره اواز کوي ، مشرکان خو د ډیر زیات رحم وړ خلک دي چې د هر در او دروازې خاورې چاټوی او خپل ژوند تیروي ،خو هیڅ هم په لاس نه ورځي. الله تعالی په قران کریم کې فرمایي چې:

»دهمغې (الله ) رابلل حق دي ، مشرکان چې دهغه پرته نور خلک رابولي نو هغوې دهغوې هیڅ دعا نه شي قبلولې.( ددې مثال د هغه تږي په څیر دې ) چې خپل لاس د اوبو په لور ورغځوي ترڅو دهغه خولې ته را ورسیږي ، خو دا اوبه هیڅکله هم دهغه خولې ته نه رسیږي ،په همدې توګه دکافرانو دعاوې هم بې کاره ثابتیږي. »(الرعد: ۱۳/۱۴(

یوسف علیه السلام هم همدا خبره خپلو بندیانو ملګرو ته کړې وه لکه چې فرمایي:

»اې زما د بندیخانې ملګرو ! ایا څو خدایان غوره دي او که یو اځې یو اځې یو او زبردست الله غوره دې ؟ تاسې دهغو پرته د بل چا بندګې نه کوئ چې تاسو او ستاسو پلرونو دهغوې له پاره څو نومونه ایښودې دي ، او دهغې له پاره الله هیڅ دلیل نه دې نازل کړې. دا الله پرته د هیچا حکومت نه شته ، هغه ویلي دي چې: زما پرته د بل چا عبادت مه کوئ ،همدا پوخ دین دې ،خوزیات خلک پرې نه پوهیږي«.

)یوسف: ۴۰-۱۲/۳۹(

(c) ketabton.com: The Digital Library


د وسیلې حقیقت او طریقه یې:

دا د لیک داسې یوه تخته ده چې تر عنوان لاندې یې ګڼ شمیر وګړو د شرک او بدعت د کانونه پرانستې دي. دغه بدقماشه وګړي زمونږ د دولت او مال لوټولو ته ناست دي خو مونږ فکر کوو چې دوي پر مونږ ډیر ستر احسان کوي. خداې خبر چې د همدې عنوان لاندې به د څومره خلکو عزتونه تر پښو لاندې کیږي او د څومره خلکو ایمانونه به لوټل کیږي، دا لړۍ په ډیره عیاره توګه په پرلپسې توګه روانه ده. راځئ چې ووینو چې دا وسیله څه شي دې؟ تر ټولو لمړۍ دا آیت ولولئ!

»اې خلکو! تاسو ټول د الله محتاج یاست، او الله غني او حمید دې.« (فاطر: **۳۵/۱۵**)

ټول خلک محتاج دي، یواځې همغه ذات بې نیازه او بې پروا ذات دې. هغه دې ته هم اړتیا نه لري چې تعریف دې یې وکړل شي. که د هغه څوک تعریف وکړي او که و یې نه کړي هغه په ټولو صفتونو ښایسته دې.

راځئ چې د یو څو محتاجو وګړو حالات و لولو. اووینو چې هغوې د خپلو اړتیاو په وخت کې څه ډول الله تعالې ته خپل ځانونه رسولي دي، تر څو مونږ هم د هغوې په قدم ولاړ شو او همغه وسیله اختیار کړو چې هغوې اختیار کړې وه. مونږ د نوح علیه السلام قصه مخته یاده کړه، بیا په غور سره ولولئ چې هغه په څه ډول د الله تعالې د کومک د تر لاسه کولو له پاره هڅې کړې وې. په همدې لړ کې د نورو انبیاؤ علیه السلام پیښې په لاندې توګه بیانوو.

سیدنا ادم علیه السلام:

که چیرې کومه غلطي وشي نو د ابلیس په څیر باید زړور و نه اوسیږي، بلکه دادم علیه السلام په څیر سمد ستې بښنه غوښتل په کار دي، الله تعالې توبه کونکي ډیر غوره ګڼي. تاسو د ادم علیه السلام حالات و وینئ:

وسیله:

الله تعالې ادم علیه السلام را پیدا کړ او په ډیر فخر سره یې هغه ته خپل خلافت ور بانښه. په ملایکو یې ورته سجده وکړه او سجده نه کونکي یې د خپلې درګاه څخه وشړل. ادم علیه السلام ته یې په جنت کې د اوسیدو حکم وکړ او دیوې ونې څخه پرته یې د نورو ټولو ونو د میوو د خوړلو اجازه ورکړه، خو شیطان چې د انسان ازلي دښمن دې، او د انسان د بې لارې کولو له پاره سوګند یاد کړې و، همغه ادم علیه السلام د همغې ونې د میوې خوړلو ته و هڅاوه چې ترې منه کړل شوې و، په همدې کار سره ادم علیه السلام د جنت څخه را وویستل شو. خو ادم علیه السلام د الله تعالې دا ناخوښي و نه شوه زغملې او په ډیر عذر سره یې ترې معافي او بښنه و غوښتله، الله تعالې فرمایي:

»ادم د خپل رب څخه څو کلیمې زده کړې بیا هغه د هغه په لور متوجه شو.« (القرة: **۲/۳۷**)

الله تعالې همدا ډول تګلاره ډیره خوښوي، ځکه یې ادم علیه السلام ته هم همدا تګلاره پخپله ور وښودله.«( ادم او حوا) دواړو عرض وکړ چې: اې زمونږ پروردګاره! مونږ په خپلو ځانونو باندې ظلم کړې دې، که چیرې ته مونږ ته بښنه و نه کړې، او پر مونږ رحم ونه کړې نو مونږ به د زیان کارانو له ډلې څخه شو.« (الاعراف: **۷/۲۳**)

(c) ketabton.com: The Digital Library


زما مشوره داده چې تاسې د قران کریم دغه پورتنې یاد کړل شوي پیښې په مکمله توګه ولولئ ، یعنې دغه آیتونه د ترجمې سره یو ځاې ولولئ.

سیدنا یونس علیه السلام:

یونس علیه السلام د الله تعالې نبي و ، کومو کلیو ته چې هغه مبعوث شوې و هغوې د هغه بلنه و نه منله. دا کشمکش تر ډیرې مودې پورې روان و ، اخر سیدنا یونس علیه االسلام د خپل قوم نه ناهیلې شو او د الله تعالې په دربار کې یې شکایت وکړ ، قوم ته یې په اخري ځل ګوانښ ورکړل شو چې که چیرې د خپلو اعمالو څخه لاس وانخلي نو د درې ورځو وروسته به په عذاب ککړ شي ، د دې اعلان د کولو څخه وروسته هغه د کلي څخه ووت ،خلکو هم دعذاب نښې نښانې و کتلې نو د کلیو څخه ووتل او په ژړا اوفریاد سره یې د ښښې غوښتنه وکړه ، استغفار او ښښنه د تقدیر مخ بدلوي ، د الله تعالې رحمت په جوش کې راغې او عذاب و تنبول شو. خلک د یونس علیه السلام په لټه کې شول ، د بله اړخه یونس علیه السلام د خپل قوم څخه ناهیلې د الله تعالې د اجازې پرته بل کوم لورې ته روان شوې و ، په لاره کې دریاب را ته. د دریاب څخه د تیریدو په خاطر په کشتۍ کې کیناست. خو کشتۍ توپاني شوه ، پریکړه وشوه چې کوم غلام د خپل مالک څخه را تښتیدلې دې او په دې کشتۍ کې ناست دې ، پچه واچول شوه خو دا پچه په بیا بیا د یونس علیه السلام په نامه راووتله. خلکو د ځان د خوندي ساتلو په خاطر یونس علیه السلام په دریاب کې ور وغورځاوه. قران کریم دا قصه دا سې بیان کړې ده:

»بې شکه ، یونس د پیغمبرانو څخه و. کله چې هغه د بار کړل شوې کشتۍ په لور ور منډې کړې ، نو خلکو پچه واچوله او هغه یې په دریاب کې ور ګذار کړ بیا هغه یو ه ماهي تیر کړ ، او بیا پښیمانه شو «.

)الصفت: ۱۴۲-۳۷/۱۳۹(

»بیا هغه په تیارو کې پروت او اواز یې کاوه چې: ستا پرته بل د عبادت وړ نه شته ، ستا ذات پاک دې ، بې شکه چې زه د ظالمانو څخه یم.» (الانبیاء: ۲۱/۸۷(

»که چیرې هغه په همدې توګه تسبیح نه کولې ، نو تر قیامته پورې به د هغې ( ماهي ) په ګیډه کې پروت پاته وې.» ( الصفت: ۱۴۴-۳۷/۱۴۳(

لږ څه غور وکړئ ! د الله د نبي غوښتنه وه چې قوم ته یې د هغو د ګناهونو په خاطر سزا ورکړل شي خو الله هغه قوم ته ښښنه کول غوښتل ، حشر یې څه شو ؟ او څوک غالب شو ؟ څوک وایې چې: « یار د یار خبره مني » ، د ښښنې د غوښتنې دغه طریقه ده چې هر کله چې څوک په کوم مصیبت کې را ونښلي او کله چې غلطی ترې وشي ، نو د زړه له کومې استغفار او توبه وکړي ، نو توبه یې منل کیږي.

سیدنا ابراهیم علیه السلام:

د الله تعالې جلیل القدر نبي و. د الله تعالې په لاره کې یې د یوه ازمیښت پسې بل ازمیښت ګاللې دې ، کله چې یې عمر زړښت ته ورسید نو دزوې له پاره یې اړتیا محسوس کړه نو دعا یې وکړه چې:

»اې زما پروردګاره ! ما ته یو صالح زوې را په برخه کړه» ( الصفت: ۳۷/۱۰۰(

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيدنا ذكريا عليه السلام:

دا د الله تعالي نبي و او د عيسي عليه السلام د مور ماما و . همغه د الله تعالي په حكم سره د مريم عليه السلام د پالنې كفالت په غاړه اخستې و . خپل اولادونه يې نه درلودل. زړښت ته ور نږدې شو . ښځه يې هم شنډه شوې وه ، ددې تر څنګ ډيره كمزورې شوې هم وه . هغه به ډير وخت مريم عليه السلام په خپله حجره كې په عبادت كې مصروفه پريښوده او دروازه به يې پسې تړله او خپلې حجرې ته به ورته. خو كله به چې را ستون شو نو د مريم عليه السلام تر مخ به يې تازه ميوې او خوارك كوت. ترې ويې پوښتل چې دغه ټول هر څه تا ته له كومه راځي ؟ هغې ځواب وركړ چې دالله له اړخه. هغه چې هر چاته وغواړي بې حده او حسابه روزې وركوي. د ذكريا عليه السلام ذهن سمدستې همغې لورې ته ولاړ او ويې ويل چې زه هم دالله تعالې څخه زوې غواړم ، په دې اساس يې دعا وكړه چې:

»اې زما پروردګاره ! د زړښت په اساس مې هډوكې كمزورې او د سر ويښتان مې سپين شوې دې ، اوما چې كله هم له تا غوښتې تا بې برخې نه يم پريښې. او ماته زما څخه وروسته زما د وروركلوې څخه د بدكاريو په اړه ويره ده ، زما ښځه شنډه ده خو ته ما ته د خپل خاص فضل له مخې زوې را په برخه كړه «

)مريم: ۵-۱۹/۴(

غور وكړئ چې الله ته د ورسيدو له پاره وسيله څه شې دې ؟ په بل عبارت: دعا په خپله وسيله ده. الله تعالې اولاد وركوې او كه نه هغه هم بزرګان درلودل. دعاګانې همغه اورې ، تاسې يې هم د همغه څخه وغواړئ ، هغه ستاسو دعا اورى او دهغه پرته بل هيڅوك تاسې ته څه نه شې دركولې ، په قران كريم كې په يوه بل ځاې كې فرمايي چې:

»د زمكې او اسمانونو سلطنت د الله له پاره دې ،هر څه چې وغواړې پيدا كوى يې، چاته چې وغواړى لونې وركوى او چاته چې وغواړې زوې، اويا لونې او زامن دواړه وركوې او څوك چې وغواړې شنډ يې پريږدې.» ( الشورې: ۵۰-۴۲/۴۹)

كه چيرې تاسې هم اولاد غواړئ نو په همدې توګه يې وغواړئ ، د درګاه ګانو خاورې مه څټئ ، ما د زكريا عليه السلام دغه دعا په خپل ځان باندې هم ازميښت كړې ده او دا ډيره مجربه نسخه ده:

»رب هب لي من لدنک ذرية طيبة انک سميع الدعاء–اې زما پروردګاره ! ماته د خپل قدرت له مخې پاكيزه اولاد را په برخه كړې ، بې شكه چې ته دعا اوريدونكې يې.» ( ال عمران ۳/۳۸ )

د سيدنا ايوب عليه السلام قصه:

اوس نو د يوه ناروغه قصه واورئ ! سيدنا ايوب عليه السلام د الله تعالې نبي و ، ازميښت پرې راغې او ناروغه پريوت. ان تر دې چې ناروغتيايي اخري حد ته ورسيده. اولاد يې هم ټول له منځه ولاړ. مال اودولت يې هم له يوه سره ختم شو. نوكرانو او چاكرانو يې هم خدمت پريښود . ديوې پرته يې نورې ټولې ښځې هم بې وفا وختلې او ترې ولاړې. د روغتيا له پاره يې وسيلې ته اړتيا وه ،خو په ښكاره توګه څه نه تر سترګو كيدل. دالله تعالې په دربار كې يې عرض وكړ چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



»بې شکه چې ما ته ډير زيات تکليف رسيدلې او ته د ټولو رحم کونکو څخه ډير زيات رحم کونکې يې« (الانبياء: ۲۱/۸۳)

زه خو دعا کوم چې: اې زمونږ ربه! د ټولې نړۍ ناروغانو ته شفا ور په برخه کړه. خو که چيرې ته ناروغه يې نو د درګاه ګانو د خاورو د څټولو په ځاې د مالک الملک الله سره په خبر و پيل وکړئ، او دا سې ورسره مخاطب شئ لکه دغه ناروغ چې ورسره شوې و. په دې خبره کې به هيڅ ډول مبالغه نه وي چې هر هغه خبره چې د زړه څخه را بيرون کيږي هغه ډيره اغيزمنه وي، همدا دعا وسيله ده. ستا نيت، ستا خلوص او ستا يقين پخپله ډيره غوره وسيله ده.

سيدنا موسې عليه السلام:

راځئ او س د يوه مسافر وسيله ووينئ او دا چې هغه څه ډول دخپل ځان له پاره د کومک غوښتنه کوي. موسې عليه السلام دالله نبي و، او الله تعالې هغه د فرعون د ټولو بنديزونو سره سره را پيدا کړ، بلکه پخپله د فرعون په غيږ کې يې راستر کړ، يوه ورځ د دوو جنګ کونکو څخه يې يوه د موسې عليه السلام څخه د بسپنې غوښتنه وکړه، خبره نه منونکې ته يې چې کله يو سوک ورکړ نه هغه په زمکه پريوت او مړ شو. هغه کس يې چې خلاص کړې و په بله ورځ يې وکوت چې د يوه بل کس سره په جګړه بوخت دې او بيا يې د موسې عليه السلام څخه د بسپنې له پاره ورغږ کړ.
موسې عليه السلام ور مخته شو او ورته يې وويل چې ته هره ورځ په جنګونو کې بوخت يې. هغه د دې ويرې چې د پرون په څير به نن ما په سوک ووهي او وبه مې وژني، ورته يې وويل چې ته غواړې ما هم هغسې ووژنې، لکه پرون دې چې هغه بل سړې په سوک وواژه! په دې توګه د تيرې ورځې د قتل راز را څرګند شو، خبره د فرعون دربار ته ورسيده او د موسې عليه السلام د وژلو حکم صادر کړل شو. د فرعون په درباريانو کې يو کس د موسې عليه السلام خير غوښتونکې و، هغه را منډې کړې او موسې عليه السلام يې د حالاتو څخه خبر کړ. او مشوره يې ورکړه چې د مصر څخه بيرون کومې لورې ته و تښتي. موسې عليه السلام و تښتيد، ويريده هم او لاره ورته هم نه معلومه. ډير لرې وا ټن يې وواهه او وږې تږې د يوه ښار تر څنګ د يوه کوهي سره نژدې د ونو بوټو په ګڼ ځاې کې کيناست. خلکو به اوبه را خستې. موسې عليه السلام دوه ځوانې نجونې وکتلې چې خپلې اوزې يې د اوبو څخه په سختۍ سره تمبولې، د موسې عليه السلام زړه پرې خوږ شو، نژدې ورغې او علت يې ترې وپوښت. نو هغوې ورته خپله مجبوري ووېله. هغه د نيک خوې خلکو په څير کار وکړ، نارينه يې د هغه ځاې لرې کړل او دا دواړه نجونو يې را مخته کړې او د هغوې مال يې خړوبه کړ. لکه چې قران کريم فرمايي:

»موسې د هغوې څناورو ته اوبه ورکړې، بيا يوه سورې کې کيناست او ويې ويل چې: اې زما پالونکيه ربه! د ښيګڼو څخه چې هر څه ته ما ته را نازل کړې نو زه د همغې محتاج يم.« (القصص: ۲۸/۲۴)

غور وکړئ، د وسيلې له پاره چې هره خبره د زړه څخه را وزي هغه اغيز شيندې، پخپله دعا وسيله ده، هغه ته نه يوا ځې د اوسيدو ځاې ور په برخه شو بلکه ښځه ورته هم تر لاسه شوه. هغه ته د يوه بزرګ شفقت ور په برخه شو او په دې توګه ورته سکون را پيدا شو.

سيدنا لوط عليه السلام

راځئ او س د الله د دا سې يوه نبي قصه ولولو چې عزت يې تر ګوا ښ لاندې دې، هيڅوک يې پوښتنه کونکې هم نه شته. دا د الله بنده او د سيدنا ابراهيم عليه السلام وراره دې. هغه د سيدنا ابراهيم عليه السلام سره يو ځاې هجرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې و ، هغه د سدوم دکلیو د خلکو د اصلاح کولو له پاره مامور شوې و . په دې خلکو کې بې حیایی تر خپلې اخرې پولې پورې رسیدلې وه . نارینه و دنارینه و سره (لواطت)یا بدفعلې کوله او په دې باندې یې فخر او ویاړ هم کاوه.
لوط علیه السلام تر ډیرې مودې پورې دخپل قوم دغه ناوړه کارونه زغمل ، بلاخره د الله تعالې له اړخه په هغوې نیونه راغله. داسې وشول چې ملایکې د ډیرو ښایسته هلکانو په څیر دې قوم ته راغلې ، لوط علیه السلام دهغوې په کتلو سره ډیر وارخطا شو ، هغه په خپل کور کې دې میلمنو ته ځای ورکړ ، قوم یې په کور راوخوت او په کلکه یې ترې و غوښتل ترڅو دا ښایسته هلکان هغوې ته ور حواله کړي. لوط علیه السلام ورته عذر او زاری کولې او ورته یې ویل چې ما دخپلو دغو میلمنو تر مخه مه سپکوئ، خو دهغوې غوښتنه وار په وار ځواکمنیده. لوط علیه السلام دخپلو لوڼو اویا دهغوې دښځو په لور ورته اشاره وکړه چې خپلې غوښتنې دهمغوې څخه په شرعي لاره پوره کړې ، خو دهغه دا خبرې بې ګټې وې ، لوط علیه السلام ورته د ناهیلۍ په حال کې وویل چې ایا ستاسو تر منځه کوم پوه او د عقل خاوند شته چې زما په دې خبرو غور و دقت وکړي. هغه په افسوس سره وویل چې: کاشکې ما یوه مضبوطه کلا درلودې چې پناه مې په کې اخستلای شوې ، شپه راغله ، قوم یې د کور ددیوالونو څخه را پورته شول اودکور انګړ ته را ننوتل ، دروازې یې ورماتې کړې نو په دې وخت کې لوط علیه السلام دالله تعالې څخه مرسته و غوښته. په دې اړه قران ته غوږ شئ.

»اې زما ربه ! ددې مفسد قوم پر خلاف زما سره مرسته او کومک وکړې.« (العنکبوت: ۲۹/۳۰(

»هغوې هغه د خپلو میلمنو دخوندي ساتلو څخه منه کاوه نو مونږ دهغوې سترګې ړندې کړې«.

)القمر: ۵۴/۳۷(

غور اودقت وکړئ ! څومره بې وسې وه خو دخپل قوم په مقابل کې یې هیڅ هم نه شو کولې. اخر یې دالله تعالې په دربار کې فریاد وکړ، نو اوس څه شې وسیله شو ؟...دعا....دعا وسیله وګرزیده ، ډیره ستره وسیله ، خبره را نه اوږدیږي ، اوس زه غواړم نور مثالونه همدلته پریږدم او د رسول الله صلی الله علیه وسلم لورې ته را ګرځم.

ددواړو جهانونو سردار (صلی الله علیه وسلم:(

حالات داسې شول چې قریشو رسول الله صلی الله علیه وسلم دمکې څخه وویست ،بیا یې په مدینې باندې هم یرغل راوړ، تر څو پیر او مرشد د مریدانو سره یو ځای له منځه یوسی ، د بدر په میدان کې مقابله وشوه ، توازن ته ووینئ ، یوې لورې ته زر کسه ازمیښت شوې جنګي ځواک او بلې لورې ته:

تهې ان کې پاس دو ګهوړے چهـ زرهین ، اتهـ شمشیرین پلټنې آئے تهے یه لوګ دنیا بهر کې تقدیرین

»دهغوې سره وو دوه آسونه ،شپږ زرهی او اته توري راغلی ودوې تر څو بدل کړي ددنیا تقدیرونه «

دا وه تش لاسی درې سوه دیارلس مسلمانان ،دهر کتونکې سترګې ورته دحیرانتیا څخه خلاصې پاته کیدې. هغوې په پوره پوهې سره خپل ځانونه دمرګ په کومې کې ور غورځول ، د دواړو جهانونو سردار ټوله شپه په خپله خیمه کې ژاړې او د الله دربار کې دعاوې کوي ، اوښکې تویوي اودا دعا لولی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



»اې زما الله ! هغه وعده چې له ماسره دې کړې وه ، پوره کړه. اې زما ربه ! که چيرې د اسلام دغه کوچنۍ ډله له منځه ولاړه شي نو بيا به ستا عبادت هيڅوک نه کوي «

)صحيح مسلم ، الجهاد ، باب الامداد بالملائيکه في غزوة بدر و اباحة الغنائم ، ۱۷۶۳م حديث ( .

يو شاعر دا دعا داسې را لنډه کړې ده:

»يا الهی ! اوس نو ته هغه د معراج د شپې وعده پورا کړه ، هغه وعده دې چې د محمد سره کړې وه هغه همدا نن پوره کړه.

که چيرې د ښمنانو هغه د دې نړۍ څخه محو کړ ، نو په دې جهان به ستا د عبادت کولو له پاره هيڅوک نه وي «.

اوس نو همتاسو پخپله پريکړه وکړئ چې مشکل اسانه ونکی څوک دې ؟ او بيا ووينئ چې د الله تعالې څخه د غوښتلو له پاره څه ډول وسيله په کار ده؟

خوله بنت ثعلبه رضی الله عنها:

اوس د يوې ښځې خبرې واورئ ، دا ښځه د بني خزرج د قبيلې پورې تړلې ده ، ميړه يې ورته په غصه کې مور وويلې ، د رواجي دستور په اساس دا يو داسې طلاق و چې بيرته ستنيدل ترې نا شوني و. دا ښځه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغله ، رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته د دستور په مطابق وويل چې دا خو طلاق دي ، دکائناتو د ټولو غوره شخصيت څخه د ناهيلۍ وروسته دا ښځه هملته کيناسته او د الله تعالې په وړاندې يې فرياد پيل کړ او تر هغې وخته پورې يې د پورته کيدو څخه انکار کاوه ترڅو چې دا رواج شوې دستور لغوه شوې نه و. په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې د وحې د راتلو حالت راغې او دا آياتونه را نازل شول.

»بې شکه الله د هغې ښځې خبره واوريده چې له تاسره يې د خپل ميړه په اړه جګړه کوله ، د الله تر مخه يې فرياد کاوه ،الله ستاسې د دواړو خبرې اوريدې ، بې شکه چې الله اوريدونکې او کتونکې دې. ستاسې څخه چې کوم خلک د خپلو ښځو څخه ظهار کوي ( يعنې ميندې ورته وايي ) ، د هغوې ښځې د هغوې ميندې نه ګرزيږي ، د هغوې ميندې همغه دې چې دوې ترې پيدا شوي دي. هغوې په ژبو باندې ډيره ناخوښه او دروا غ خبره کوي خو الله ښښونکې او عفوه کونکې ذات دې.»( المجادلة: ۲-۱/۵۸(

فکر وکړئ چې هغه خلک څومره ناپوهه دي چې په الله باندې درواغ وايي ، چې ګويا هغه د هغوې خبره نه اوری ، دا داسې ستره ګناه ده چې د الله تعالې د غضب سبب ګرځي. الله تعالې يې اوري خو چې څوک بلونکې خو وی. مونږ خو د کرم لورې ته ميلان لرو ، چې کوم سوال کونکې نه شته نو لاره به څوک و ښئ؟ لاره او منزل نه شته ، روزنه عامه ده خو وړ جوهر نه شته ، او د هغې خاورې څخه چې د ادم تعمير شوې دې دا هغه خاوره نه ده .

د الله تعالې دروازه مه پريږدئ ، له ځانه داسې فقير جوړ کړئ او د هغې د دروازې درشيي دومره کلک و نيسئ چې تاسو د هغه په بندګۍ متيقين شئ. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلې چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



»دالله څخه په پوره يقين سره دعا وغواړئ ، ضرور به قبليږي. خو په دې پوه شئ چې دغافلو اولوبيدونکې زړونو دعا نه قبلوي.« ( جامع الترمذي ، الدعوات ، باب ب ۲۵، ۳۴۷۹م حديث(

يعنې په داسې توګه دعا مه غواړئ چې دکوم زيارت سره مو هم د وفادارئ ژمنه تړلې وي او په رسمي توګه دعا دالله تعالې څخه غواړئ. حقيقت دادې چې الله تعالې دخپلو بندګانو سره ډيره زياته مينه اومحبت کوي ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې:

»بې شکه ، ستا رب حيا کونکې او کريم ذات دې. هغه دخپلو بندګانو څخه حيا کوي ، چې کله د هغه بنده خپل لاسونه ددعا له پاره پورته کړي او هغه دې دهغه لاسونه دهغه لورې ته خالي را و ګرځوي « .

)سنن ابې داود ، الوتر ، باب الدعاء ۱۴۸۸م حديث(

دغه ډول دعا زده کړئ لکه څنګه چې سيدې خوله رضى الله عنها الله ته کوله. دهغې په دعا باندې الله تعالې سمدستې وحې را نازله کړه ، دا الله تعالې دومره باريک ليدونکې او دومره نژدې دې چې سمدستې يې يو رواجي قانون منسوخ کړ او په راتلونکې کې يې دداسې عمل کونکو له پاره سزا و ټاکله. د مجادلې سورت ولولئ..

خو يوه په زړه پورې خبره به تاسې ته وکړم او هغه دا چې د ې ښځې ته د صحابو تر منځ ډير ستر مقام په برخه شو ځکه چې هغې داسې يو فرياد وکړ چې دعرش مالک پرې فورا او سمدستې مهربانه شو او حکم يې را وليږه.

يوه ورځ سيدنا عمر رضى الله عنه د څو کسو صحابوو سره يوځاې روان و ، چې په لاره کې ورته دا ښځه مخته راغله ، هغې سيدنا عمر رضى الله عنه تم کړ ، هغه رضى الله عنه تر ډيره پورې سر ټيټ کړې و او دهغې خبرې يې اوريدلې ، يوه ملګرى يې ورته وويل چې: اميرالمؤمين ! تا دقريشو سرداران ددې بوډۍ له پاره دومره اوږده و درول. سيدنا عمر رضې الله عنه ورته وفرمايل: تاسې پوهيږئ چې دا څوک وه ؟ دا خوله بنت ثعلبه رضى الله عنها وه ، دا هغه ښځه وه چې دهغې شکايت په اوه اسمانونو کې اوريدل شوې و. په الله سوګند چې که دې ښځې زه د شپې تر ناوخته پورې هم درولې واې نوزه به ورته ولاړ واې. او يوازې د لمونځونو په وخت کې به مې ترې معذرت غوښت«.

يوځل دا ښځه د سيدنا عمر رضى الله عنه سره په لاره کې مخ شوه ، سلام يې ورته وکړ ، دسلام ځواب يې ورکړ او ورته يې وويل چې:« اې عمره ! يو وخت و چې ما ته د عکاظ په بازار کې کتلې وې ، هغه وخت يې تاته عمير وايه ، کوتک به دې په لاس کې و او ګډې به دې څرولې ، بيا څه موده تيره شوه او ستا نوم عمر و ګرزيد . اوبيا يو وخت داسې راغې چې ته امير المؤمنين شوې ، د رعيت په اړه دې دالله نه ويره وکړه ، ياد ساته ، هغوې چې د الله د وعيد څخه ويريږي نوهغه ته لرې کس هم دخپل خپلوان په څير ښکاري ، هغه چې د مرګ څخه ويريږي دهغه په اړه دا انديښنه وي چې هغه به هغه څه له لاسه ورکړي د کوم څه د خوندي کولو له پاره چې هڅې کوي.« جارود عبدې رضى الله عنه چې دعمر رضى الله عنه سره يو ځاې و ، وويل: اې ښځې ! تا د اميرالمؤمنين تر مخه ژبه را وويستله ! سيدنا عمر رضى الله عنه ورته وويل چې:« پوهيږې چې دا څوک ده ؟ ددې خبره خو د اوه اسمانونو نه پورته اوريدل شوې په دې خاطر عمر ددې خبرې په ډير غور سره اوريدل غواړي «

لږ څه غور وکړئ ! دې ښځې ته رسول الله صلى الله عليه وسلم ځواب ورکړې و چې: اوس هيڅ نه کيږي ،مګر الله تعالې ورته وفرمايل چې: « و تشتکى الې الله» يعنې دهغې شکايت پخپله وسيله وګرزيده

(c) ketabton.com: The Digital Library



»دزړه څخه چې کومه خبره راو ځي اغیز لري.«

تر ټولو ستره وسیله:

دصالح عمل او دعاو څخه بله ستره وسیله نه شته. لکه چې الله تعالې فرمایي:

»او ستا پروردګار فرمایي چې: تاسې له ما څخه دعا وغواړئ، زه ستاسې دعاوې قبلوم، هغوې چې په ضد کې را ځي او زما دعبادت څخه مخ اړوي هغه به هرومرو ذلیل او خوار ګرځي او ددوزخ په اور کې به ور اچول کیږي» (المؤمن: ۴۰/۶۰)

آیت په څرګنده توګه بیانوي چې دعا عبادت دې او یواځې د الله حق دې چې ورته وکړل شي. ددعا نه کول تکبر او لویې ده او دنه غوښتونکو ځاې جهنم دې. اوس یوه په زړه پورې قصه بیانوم او خبره را لنډوم.

د سیدنا ابن عمر رضی الله عنهم څخه روایت دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چې: ستاسې څخه مخته درې کسه تیرشوي، هغوې په لاره روان و چې ناڅاپه پرې باران را وورید. هغوې په یوه غار کې پناه واخسته. (دپاسه پرې یوه ستره تیږه را پریوته) او دغار خوله یې بنده کړه. یوه بل ته وویل چې: ملګرو! په الله سوګند چې د ریښتیا پرته به بل هیڅ څه تاسې ددې مصیبت نه خلاص نه کړي. په دې خاطر تاسو هر یوه ته په کار دي چې دهغه څه په وسیله دعا وغواړئ چې دهغې په اړه تاسو پوهیږئ چې هغه عمل مو په خالصه توګه د الله په خاطر کړې و.

دلمړي وګړي قصه:

دهغوي دډلې څخه یوه وویل چې: اې الله! ته ښه پوهیږې چې ما یو مزدور درلود چې د اوه منو وریجو په بدل کې یې زما نوکري کوله، هغه ولاړ او مزدوري یې پریښوده، ما دهغې دغه اوه منه وریجې په پټي کې و کرلې او بیا مې دهغې په پیدا وارو باندې حیوانات واخستل. بیا یوه ورځ هغه مزدور ما پسې دخپلې مزدورۍ د اخستلو په خاطر راغې. نو ما ورته وویل چې هغه حیوانات ټول مخکې کړه او یوسه یې. هغه راته وویل چې له ماسره ټوکې مه کوه، زما له تاسره د مزدورۍ اوه منه وریجې کیږي همغه راکړه. ما ورته وویل چې همغه حیوانات مخته کړه او یوسه یې. ځکه دا حیوانات مې ټول د هغو اوه منه وریجو په حاصل اخستې دي. بیا هغه وګړي هغه ټول حیوانات له ځانه سره یوړل. نو اې الله! ته پوهیږې چې ما دا کار یواځې او یواځې ستا څخه دویرې په خاطر کړې دې، اوس نو زمونږ له مخې دا تیږه لرې کړه، همغه و چې هغه تیږه لږ څه وخوزیده.

ددویم وګړي وسیله:

بیا هغه دویم وویل چې: اې الله! ته ښه پوهیږې چې زما مور او پلار زاړه شوي دي، ما به هره ورځ هغوي ته د میږو تازه شیدې ور رسولې، یوه شپه په اتفاقي توګه زه هغوي ته دومره نا وخته ور ورسیدم چې هغوې دواړه ویده شوي وو، زما کوچنیانو د لوږې له لاسه بریږې وهلې، ما خپلو کوچنیو ورو بچیانو ته د مور و پلار څخه د مخه ځکه شیده ور نکړل چې هغوې دواړه ویده شوي و او ما دا مناسبه و نه ګڼله چې هغوې را ویښ کړم، او دا مې هم نه شو زغملې چې هغوې همداسې پریږدم. ځکه ویریدم چې ددې شیدو د نه څکلو په اساس به هغوې کمزورې شي. ما ټوله شپه په انتظار کې تیره کړه ان تر دې چې سهار شو. اې الله! ته پوهیږې چې ما دا کار ستا څخه د ویرې په اساس کړې دې، نو اوس زمونږ څخه دا تیږه پورته کړه، همغه و چې هغه تیږه لږ څه نوره هم وخوزیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دریم وګړي وسیله:

ددې نه وروسته هغه دریم وګړي وویل چې: ته ښه پوهیږې چې زما دکاکا یوه لور وه چې زما ډیره زیاته خوښیده. ما دهغې څخه د (ناروا کار) غوښتنه وکړه هغه دسلو اشرفیو داخستلو پرته نه راضي کیده. ما دهغو اشرفیو د تر لاسه کولو له پاره منډې تړې وکړې، کله مې چې تر لاسه کړې نو هغه اشرفۍ مې هغې ته ورکړې او هغې خپل ځان زما په واک کې راکړ. کله چې زه دهغې ددواړو پښنو ترمنځ کیناستم نورا ته یې وویل چې د الله نه وویریږه، اوزما د بکارت مهر په ناحقه ( د نکاح نه پرته ) مه ماتوه. نو زه راپورته شوم، هغه سل اشرفۍ مې هم ورپریښودې، اې الله! ته ښه پوهیږې چې ما ستا د ویرې په اساس هغه کار پریښود. په دې اساس زمونږ دمخې څخه دا تیږه لرې کړه. همغه و چې الله تعالې هغه تیږه په پوره توګه دهغه ځایه شاته کړه او هغه درې واړه بیرون را ووتل.»(صحیح بخاري، الحرث و المضارعة، باب اذا زرع بما ل قوم....۲۳۳۳م حدیث ) همدا راز ( سهی مسلم، الذکر و الدعاء...باب قصة اصحاب الغار.. ۲۷۴۳م حدیث)

غور اودقت وکړئ! هغه نیک عمل چې یواځې دالله درضا د تر لاسه کولو له پاره تر سره شي همغه عمل او تر څنګ یې دخلوص نه ډکه دعا پخپله ستره وسیله ده. دا دبنده کار دې چې د الله د دروازې درشیي پرې نه بدي او دهمغې په غلامۍ کې شپه او ورځ مصروف و اوسي.

د ژوندیو بزرګانو څخه ددعا کولو غوښتنه:

دنورو څخه د دعاو کولو غوښتنه همغه وخت ګټوره ثابتیدای شي چې په خپله یې ته هم وکړې او د الله تعالې اجازه هم وي، خوکوم بزرګ چې ومري نو دهغه له پاره مونږ ژوندي باید دعاوې وکړو. په خپله دعا کول او د ژوندیو بزرګانو څخه ددعا کولو غوښتنه هم سهي خبره ده اودا کار په صحابه وکې هم موجود و. سیدنا انس رضی الله عنه وایي چې کله به قحط راغي نو سیدنا عمر ابن الخطاب رضی الله عنه به د سیدنا عباس بن عبدالمطلب په وسیلې سره د باران کولو دعا کوله. او ویل به یې:

»اې زمونږ ربه! مونږ ددې نه مخته ستا لوري ته درسول الله صلی الله علیه وسلم وسیله خپلوله. ( یعنې د استثقا له پاره به مو دعا کوله ) او تا به پر مونږ باران کاوه. خو اوس مونږ ستا لوري ته ستا د نبي صلی الله علیه وسلم د کاکا وسیله اختیاروو، ( یعنې دهغه په لاسو دعا کوو ) نو پر مونږ باران وورووه. سیدنا انس رضی الله عنه وایي چې: بیا به باران پیلیده.

او که نه هلته خو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم قبر موجود و، نو که چیرې د هغه د قبر په وسیلې سره ددعاو غوښتنه د صحابه کرامو عقیده وایی نو بیا خو به هغوې همله ته په قبر باندې حاضرید اې، او سیدنا عباس رضی الله عنه ته به یې ځنګل ته د ورتللو تکلیف نه ورکاوه. ددې نه څرګندیږي چې د وفات شوي وګړي د قبر په طفیل او واسطې سره ددعا د غوښتلو عقیده زمونږ د لاربنود او رهنما، د کامل پیر او امام اعظم صلی الله علیه وسلم له اړخه مسلمانانو ته ورکړل شوې نه ده. او که نه حسین رضی الله عنه به دخپلې کورنۍ دنیا دغسې په داو نه وې ایښې، بلکه هغه به هملته په مدینه کې دهغه قبر نه لاسونه چاپیره کړي وې، چیرې چې دهغه ستر نیکه، امام الانبیاء، د انسانانو ویاړ لې سردار محمد صلی الله علیه وسلم ارام کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقبر پالنې ناروغتیا دمسلمانانو تر منځ د وبا د ناروغتیا په څیر خپره شوې ده ،ما یو کس د یوه مزار څخه د وتلو په وخت کې کوت ، چې بیا بیا یې ویل: ډیره ښه پیره ! لکه څنګه چې ستا خوښه وی.. ما ترې وپوښتل چې پیر دې څه کړي دی ؟ ځواب یې را کړ چې: زما دلته د حاضرۍ د ورکولو دومره موده شوې ده خو زما مراد تر اوسه پورې نه دې پوره شوې ، ما ورته وویل چې: محترمه ! الله ته ورغږ کړه. ویې ویل چې: همدا پخپله الله دې ! نعوذبالله( انا لله و انا الیه راجعون. (

الله دې داسې ناپوهانو ته لارښوونه وکړی. امین

نیک عمل څه ته وایی:

هغه نیک عمل د الله په دربار کې قبلیږي چې دالله تعالې دخوشحالۍ له پاره، دهمغه له ویرې او درسول الله صلی الله علیه وسلم د تګلارې سره سم تر سره شوي وي. لکه چې قران کریم فرمایی:

»اې زما پیغمبره ! دوي ته ووایه چې که چیرې تاسې دالله سره محبت کول غواړئ نو زما پیروي وکړئ ، الله به له تاسې سره محبت وکړي او ستاسې ګناهونه به در وبښي ، هغه ډیر زیات بښونکې او مهربانه ذات دې. » ( العمران: ۳/۳۱)

یعنې دپیغمبر صلی الله علیه وسلم پیروي پخپله ستره وسیله ده،دهمدې په واسطه د الله تعالې اذن او اجازه تر لاسه کیږي ، او همدا د الله تعالې له اړخه اجازه ده.

د دعا کولو اهمیت:

دعا یوه مکمله او مضبوطه وسیله ده. په قران اوحدیث کې یې زیات فضایل راغلې دي چې دهغې لړۍ څخه دغه څو د نمونې په توګه یادوو:

- سیدنا سلمان فارسي رضی الله عنه فرمایی چې یوځل نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: تقدیر د دعا پرته بل هیڅ شې نه شي بدلولې او عمر د نیکۍ پرته بل شي نه شي زیاتولې «.

)جامع الترمزي ، القدر باب ماجاء الایرد القدر الا الدعاء ۲۱۳۹م حدیث(

- سیدنا نعمان بن بشیر رضی الله عنه فرمایی چې: نبې کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې :

»دعا په خپله عبادت دې» ( جامع الترمزي ، الدعوات ، باب منه الدعاء مخ العبادة ، ۳۳۷۲م حدیث ، و سنن ابن ماجه ، الدعاء ، باب فضل الدعاء ۳۸۲۸م حدیث (

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې:

»ستاسې پروردګار فرمایی چې: تاسې دعا له ما څخه و غواړئ ، زه ستاسې دعا قبلوم. هغه خلک چې زما د عبادت( دعا ) څخه تکبر کوي هغوې به ډیر ژر په ذلیله توګه ددوزخ په اور کې ور واچول شي.» ( المؤمن: ۴۰/۲۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library


- سیدنا ابو هریره رضی الله عنه فرمایي چې: د رحمت نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې: هر هغه څوک چې د الله تعالې څخه دعا نه غواړي ، الله ترې ناراضه کیږي. » ( جامع الترمزی ،الدعوات ، باب منه من لم یسال الله یغضب علیه ، ۳۳۷۳م حدیث (

- الله تعالې فرمایي چې :

»ایا الله د خپل بنده له پاره کافي نه دې ؟» ( الزمر: ۳۹/۳۶(

دا پوښتنه د هغو خلکو عقل ته د فکر کولو بلنه ورکوي چې د الله تعالې دروازې پریږدي او اخوا دیخوا ځایو کې تیندکونه وهي.

- الله تعالې فرمایي چې: « کله چې زما بندګان له تا څخه زما په اړه و پوښتي ( نو ورته ووایه چې ) زه ډیر نزدې یم ، کله چې یو دعا کونکې دعا کوي نو زه یې قبلوم ، نو دهغوې له پاره هم په کار دي چې زما دحکم متابعت وکړي او یو اځې پر ما ایمان ولري تر څو ښګینه بیامومي «.

)البقرة: ۲/۱۸۲(

دعاګانې ولې نه قبلیږي ؟

دا ډیره مهمه او په زړه پورې پوښتنه ده. ددې علت څو ډوله شونې دي. خو دهغوې څخه یو دا دې چې ددعا کولو په وخت کې د اخلاص کمښت موجود وی. که چیرې د انسان تکیه په بل کوم قوت ، په خپل ځواک او ذهانت ، په کوشش ، سپارښتنه ، رشوت اویا نورو ذرایعو باندې وی نو بیا خو په الله تعالې باندې تکیه او باور کمیږي نو هغه به بیا د الله تعالې څخه رسمي دعا غواړي ، الله تعالې به هم هغه همغو ذرایعو ته ورحواله کړي ، دا نه وایو چې انسان دې هغه جایز او شرعي ذرایع پریږدي ،خپلې هڅې دې کوي خو دهغې حتمي پایلې دی پر الله تعالې باندې پریږدي.

دویم علت یې مصلحت دې. مور په انسان تر ټولو ډیره مهربانه او شفیقه اوسي ، کله چې مور محسوس کړي چې دهغه کوچنې دکوم داسې شي په لور لاس ور اوږدوي چې هغه ته ضرر رسونکې دې نو بیا دخپل کوچنې ددې غوښتنې په کلکه مخالفت کوي ، که چیرې دا کوچنې دغه ضرر رسونکې شې په لاس کې هم واخلي نو بیرته یې ترې په زور اخلي ، که څه هم دا کوچنې په چغو چغو و ژاړي او دخپلې مور په دې کار احتجاج هم وکړي. بلکه که چیرې د خوړلو کوم مضر شې په خوله کې هم واچوي نو بیا دهغه په خولې کې ګوتې ننباسي او هغه شې ترې بیرته راباسي ،که څه هم هغه کوچنې دا کار په خپل ځان باندې ظلم او تیرې هم وګڼي.

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ارشاداتو څخه ډاګیزه کیږي چې الله تعالې په خپلو بندګانو باندې د مور څخه هم ډیر شفیق او مهربانه دې. کله چې بنده ورته ددعا له پاره لاس اوږدوي او هغه دبنده له پاره ګټور نه وي نو هغه ورته نه ورکوي ، بلکه هر هغه نعمت چې د بنده له پاره ضرر رسونکې وي نو که هغه ورکړي هم بیرته یې ترې اخلي ، اودا دهغه د شفقت یوه نښه ده. لکه څنګه چې یو کوچنې په هر حال کې چې وي د مور لمنه نه پریږدي ، بلکه دهغې په غیږ اولمن کې د ډاډ او سکون احساس کوي او هغه دخپل ځان له پاره درحمت مجسمه ګڼي ، نو په همدې توګه انسان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


په کار دي چې د الله تعالی رحمت څخه هيڅکله هم ناهيلې نه شي. ځکه چې الله تعالی خو د مور څخه هم ډير شفيق او مهربانه دي. د يوه روا او جايز شي د تر لاسه کولو هڅې دي په پرلپسې توګه کوي ، او د دعا په غوښتلو کې دې تنبلي نه کوي ، ځکه چې ګټور شي الله تعالی ورکوي ، او که نه د هغې نعم البدل ورکوی او يا د هغه دعا د قيامت له پاره ذخيره کوي ، په هر صورت د الله تعالی او بنده تر منځ اړيکې بايد په پرلپسې توګه قايم و اوسی، د ټولو هڅو او کوششونو پايلې د هغه په رحمت پورې تړلې دي. د جايزو او روا هڅو تر څنګ بايد سترګې د هغې په رحمت باندې نښتې وي ،په همدې کې سکون او عافيت دې ، لکه چې الله تعالی فرمايي:

»مونږ انسان پيدا کړ ، او مونږ په دې پوهيږو چې د هغه په زړه کې څه ډول خيالات را پيدا کيږي ، او مونږ هغه ته د هغه د شارګ څخه هم ورنژدې يو .« ( ق: ۵۰/۱۶)

افسوس د هغو بې شعوره انسانانو په ناپوهۍ باندې چې د شارګ څخه نژدې او د زړه د خيالاتو پوهيدونکې هيروي او د هغو خلکو په لور ميلان پيدا کوي چې الله يې په اړه فرمايلی دی چې هغوې په ژوند کې بې وسه دي، د مړينې وروسته بې خبره دي او د قيامت په ورځ به انکار کوي.

اې خلکو !د الله تعالی سره د مخاطب کيدو لارې چارې زده کړئ ، هغه د ځواک خاوند دي ، مجبور نه دې. هغه د شارګ څخه هم نژدې دي ، لرې نه دې. د هغه علم مکمل دي ،د نورو په څير نامکمله او نيمګړې نه دې ، هغه ته زوال ،کمزوري او مړينه نه شته ، بلکه:

»هغه ژوندې دي ، د هغه پرته بل د عبادت وړ څوک نه شته ، بس همغه ته په خالصه توګه ورغږ کړئ ، او د همغې عبادت وکړئ، ټول تعريف يوازې د الله له پاره دې چې د ټولو جهانونو پروردګار دې « .

)المؤمن:۴۰/۶۵ (

»ته د بتانو څخه هيله من يې او د خداې څخه نا هيلې ، نو ماته وو ايه چې د دې نه اخوا نور کفر به څه وي«

د علي هجوري فرمان:

دا هغه بزرګ دي چې د تبليغ په لړ کې يې د افغانستان د غزنی د ولايت څخه لاهور ته تشريف راووست. او بيا د مړينې وروسته همدلته په لاهور کې ښخ کړل شو . اوس د هغه په مزار باندې ډيرکې خلک غير شرعي او غير اخلاقي حرکات تر سره کوي او د هغه پورې خپلې هيلې تړي ، هغه په خپل مشهور کتاب (کشف الاسرار ) کې خپل ځان مخاطب کړې او ليکلي يې دی چې:

»اې علي ! خلک تا ته ګنج بخش ( خزانه بخښونکي ) وايي ، خو ستا په واک کې چا ته د ورکولو له پاره يوه پيسه هم نه شته. ته په دې باندې مه وياړيږه ، ځکه چې ګنج بخش او رنج بخش يوازې د الله تعالی ذات دې«.

خو د دې قوم به څه حال وی چې اصل دا تا ګنج بخش يې پرې ايښې او هغو بزرګانو ته داتا او ګنج بخش وايي او د هغوې روحونو ته تکليف ور رسوي ، په يقين سره د قيامت په ورځ به الله تعالی د هغوې څخه پوښتنه کوی ، دا ټول له لړۍ د يوه کارو بار په خاطر روانه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ددعا کولو طریقه:

په قرانکریم کې الله تعالې دډیرو انبیاؤ کرامو هغه دعاوې را نقل کړي دي چې هغوې په مختلفو حالاتو کې الله تعالې ته کړي دي تر څو مسلمانان په همورته حالاتو کې همغسې دعاوې و غواړي. ددوې له ډلې څخه مو د یو څو یادونه مخته کړی ده، د احادیثو په کتابونو کې زیات شمیر دعا ګانې راغلې دي چې پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم به غوښتلې. غوره داده چې همغه دعاوې یادې کړل شي او په همغه لهجې او طریقې سره وغوښتل شی چې په قران او حدیثو کې راغلي دي. خو که چیرې دا معذوري وي چې هغه نه شئ یادولې نو بیا ددعاو کول مه پریږدئ، الله په هره ژبه پوهیږي، هغه د زړونو په کیفیت باندې ښه خبر دي. دزړه په خلوص یی په خپله ژبه باندې وغواړئ، په هیڅ دعا کې یی د کوموې وسیلې او یا واسطه را منځته کول نه دي ذکر کړي په دې خاطر دا ډول کار ممنوع دې. ددعا په مفهوم او مقصد ځان پوه کړئ او بیا یی وغواړئ تر څو دژبې تر څنګ ستا زړه او دماغ هم ستا په دعا کې له تاسره یو ځای وي. له دعا مخته او وروسته د رحمتونو په نبي صلی الله علیه وسلم باندې ددرود لوستل مه هیروئ، او که نه دعا مو نه قبلیږي، او په اخر کې امین ضرور وو ایاست. زړه د هر ډول شرک څخه پاک او یواځې د الله له پاره یی پاک کړئ.

د درود فضیلت او اهمیت:

ددرود اهمیت داسې وګڼئ چې د درود پرته کوم لمونځ لمونځ نه دې او نه کومه دعا دعا ده، خو درود هم باید په مسنونه توګه وي، ځکه مسلمانانو په خپله خوښه باندې زیات شمیر درودونه جوړ کړي دي او په هغې یی نو مونه هم ایښي دي، ددې یوه په اړه هم د احادیثو په کتابونو کې یادونه نه ده شوې. داسې درود که تاسې د زړه د اخلاصه هم ولولئ چې زمونږ د نبی صلی الله علیه وسلم له اړخه مهر شوې نه وي نو بیا تاسو په خپله پریکړه وکړئ چې داسې خرابه او له منځه تللې سکه به څوک په مارکیټ کې قبوله کړی؟ یعنې د سنتو پر خلاف اخلاص هم بې کاره دې.

تل همغه مستند درود ولولئ چې د احادیثو په کتابونو کې درج شوي دي، دهغوې له ډلې څخه یو هغه دې چې مونږ یی په لمانځه کې لولو. زما مشوره داده چې خپل ځانونه په ډیرو ستونزو کې را ګیر نه کړئ، او یواځې همدغه د لمانځه درود شریف ولولئ، لږ تر لږه خو به زړه ته دا ډاډ را پیدا کیږی چې په دې باندې د مدینې مهر شته، په قران مجید کې د درود شریف له پاره دا ډول حکم راغلی دې.

»الله او دهغه ملائکې نبي (صلی الله علیه وسلم ) باندې درود وایی، ای د ایمان خاوندانو تاسو هم پر هغه باندې درود او سلام وو ایاست.« (الاحزاب: **۳۳/۵۶**(

سیدنا عبد الرحمن بن ابي لیلا رضی الله عنه وایی چې: کعب بن عجره رضی الله عنه زما سره د کتلو له پاره راغی او راته یی وویل چې ایا زه تا ته هغه شې هدیه نه کړم چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلی دې؟ ما ورته وویل چې: هو !ضرور یی راته هدیه کړه. هغه وویل چې: مونږ د نبی صلی الله علیه وسلم څخه وپوښتل چې: اې د الله رسوله !مونږ پر تا او ستا پر اهل بیت باندې څه ډول درود وو ایو؟ نبې کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې: داسې یی وو ایی:

(c) ketabton.com: The Digital Library


»اللهم صلی علی محمد ، و علي ال محمد ، کما صليت علی ابراهيم و علی ال ابراهيم انک حميد مجيد. اللهم بارک علي محمد و علي ال محمد ، کما بارکت علي ابراهيم و علي ال ابراهيم انک حميد مجيد «

»اې زمونږ پروردګاره ! پر محمد او دهغه په کورنۍ باندې رحمت وکړه لکه څنګه دې چې په ابراهيم او دهغه په ال باندې رحمت ليږلې و. بيشکه چې ته تعريف کړل شوې او پاک يې. اې زمونږ پروردګاره ! پر محمد او دهغه په کورنۍ باندې برکتونه وکړه لکه څنګه دې چې په ابراهيم او دهغه په ال باندې رحمت کړې و ، بې شکه چې ته تعريف کړل شوې او پاک يې.« (صحيح البخاري: احاديث الانبياء ، ۳۳۷۰م حديث او صحيح مسلم ، الصلاة باب الصلاة علي النبی صلی الله عليه و سلم ،بعد التشهد ، ۴۰۲ م حديث(

ددرود مقام:

د سيدنا ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت دې چې نبي کريم صلی الله عليه و سلم وفرمايل چې: هر څوک چې پر ما يو ځل درود ووايي نو الله تعالې پرې لس ځلې رحمت نازلوي. (صحيح مسلم، الصلوة ، باب الصلوة النبي صلی الله عليه و سلم بعد التشهد ۴۰۸م حديث(

اوس تاسو پخپله پريکړه وکړئ چې هسې دخپله ځانه جوړ شوي درودونو باندې خپل وخت او ثواب ولې ضايع کوئ ، حقيقت دادې چې د کوم درود سند چې درسول الله صلی الله عليه و سلم پورې نه رسيږي هغه باطل دې. پاته شو اصل درود شريف ، نو هغه بايد تل ولوستل شي. دهغې جملې په پيل کې چې اللهم ربنا لفظ راغلې وي هغه دعا وي نو په دې خاطر درود شريف هم دعا ده.

د دعا وخت:

که څه هم دعا هر وخت کول په کار دی. خو څو داسې وختونه دې چې د احاديثو په کتابونو کې راغلي دي دهغې ډلې څخه زه غواړم چې يو اځې د يوه وخت يادونه وکړم.

سيدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمايي چې ما لمونځ کاوه چې رسول الله صلی الله عليه و سلم راغې ، سيدنا ابوبکر صديق او سيدنا عمر رضی الله عنهما دواړه ورسره و ، زه د لمانځه وروسته کيناستم نو د الله تعالې تعريف او ستاينه مې پيل کړه بيا مې په رسول الله صلی الله عليه و سلم باندې درود و ليږه ، او د خپل ځان له پاره مې دعا وکړه . نبي اکرم صلی الله عليه و سلم را ته وفرمايل چې:

«هر څه چې غواړې ويې غواړه ، درکول کيږي ، ويې غواړه ، درکول کيږی» (جامع الترمزی ، الصلاة ، باب ماذکر فی الثناء علی الله.....۵۹۳م حديث(

يعني لمونځ ددعا له پاره ډير غوره وخت دې ، لمونځ د مؤمن معراج دې. په دې وخت کې مؤمن په پوره توګه د الله تعالې سره نيغ په نيغه خبرې کوي ، او ددې له پاره هيڅ ډول وسيلې ته هم اړتيا نه شته.

واسطه نه طفيل:

دداسې دعاکونکو له پاره الله تعالې فرمايي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



»همدا خلک دي چې مونږ دهغوې د اعمالو ښه اعمال قبلوو . او دهغوې د بدیو څخه تیریږو ، همدوې د جنت خاوندان دی.» ( الاحقاف: ۴۵/۱۲(

دعا عبادت دې او دا یوائې دالله تعالې حق دې ، ددعا د نه غوښتلو په اساس الله تعالې نا راضه کیږی دعا او د نبي صلی الله علیه وسلم د اطاعت نه پرته بله کومه ستره وسیله نه شته. ددې نه علاوه دخپله ځانه هر جوړ شوې فعل مشرکانه فعل دې او شرک ظلم دې لکه چې الله تعالې فرمایی:

»او کله چې لقمان خپل زوي ته نصیحت کاوه او ورته یی وویل چې: اې زما زویه ! دالله سره هیڅوک شریک مه جوړوه ، بې شکه چې شرک د ټولو ظلمونو څخه ستر ظلم دې» ( لقمان: ۱۳/۳۱(

په همدې ځای کې الله تعالې د مور او پلار حق بیانوي او بیا دمور مقام بیانوي خو بې حدو حسابه. خو که چیرې احسان کونکي مور هم د الله سره د شرک له پاره حکم وکړي نو بیا الله تعالې حکم کړې دې چې په دې خبره کې دهغې فرمانبرداري مه کوئ خو ددنیا په کارونو کې دهغې خدمت ته ورودانګئ.

شرک اعمال له منځه وړی:

د الله نه وروسته ، په دواړو جهانونو کې د نبي صلی الله علیه وسلم څخه بل ستر شخصیت زمونږ په وړاندې نه شته. خو د شرک په اړه چې دهغه صلی الله علیه وسلم په باره کې کوم فرمان الله تعالې نازل کړې دې هغه هم ووینئ:

»او بې شکه مونږ ستا لوري ته او ستا څخه تر مخه خلکو ته وحي لیږلې وه چې که چیرې تاسو دالله سره شرک وکړ نو ستاسو ټول اعمال به ضایع کړل شی او تاسو به دزیان کارانو له ډلې څخه وګرځئ.« (الزمر: ۳۹/۲۵(

یوه خبره په یاد لرئ چې الله د کوم خاص قوم او یا خاص وګړي سره محبت نه کوي بلکه دخپل قانون سره محبت لري ، هر هغه څوک چې دهغه قانون ومني همغه ورته منلې او محبوب دې. او څوک یی چې و نه منی هغه ورته مردود دې. الله تعالې په قران کې د ابراهیم ، اسحاق ، یعقوب ، نوح، سلیمان ، ایوب ، یوسف ، موسې ، هارون ، ذکریا ، یحیې ، عیسې ، الیاس ، اسماعیل ، یونس او لوط علیهم السلام په یادولو سره ویلي دي چې دوې ته په نورو خلکو باندې برتري او فضیلت ورکړل شوې دې ،خو دهغوې په اړه یی دا هم فرمایلی دي چې:

»دهغوې پلرونه او نیکونه ، او دهغوې دزامنو او ورونو څخه ډیر مونږ نازولې او مستقیمې لارې ته مو هدایت کړې دي ، دا لارښوونه د الله له لورې ده ، دخپلو بندګانو څخه یی چې چاته وغواړې ورکوي یی. خو که دوې هم شرک وکړي نو ددوې ټول اعمال به له منځه ولاړ شی» (الانعام: ۸۸-۲/۸۷(

ددې څرګندو او صریحو ایاتونو څخه دا ډاګیزه شوه چې شرکي اعمال صالح اعمال هم له منځه وړی په دې خاطر هر مسلمان ته په کار دي چې د شرک څخه ځان وژغوري.

په شرک باندې مړه کیدل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



»بې شکه چې الله دا خبره هیڅکله هم نه بښي چې دهغه سره شریک جوړ کړل شی. ددې نه علاوه کومې نورې ګناګانې که وغواړی معافوی یې. هر هغه چا چې دالله سره شریک جوړ کړ نو هغه ډیر ستر دروا غ وویل او دا ډیره سخته ګناه ده.» (النساء:۴/۴۸)

بیا یې وفرمایل چې:

»بې شکه چې الله ددې خبرې بښنه نه کوي چې دهغه سره څوک شریک و ګرځول شي ، ددې نه علاوه نورې څومره ګناګانې چې که وغواړي بښي یې. هر چا چې د الله سره شریک جوړ کړ هغه په ګمراهی کې ډیر مخکې تللې دې.» ( النساء: ۴/۱۱۶)

شرک دومره خطرناکه ګناه ده چې دهغې پرته به د نورو پریکړه په خپل وخت سره کیږي ، خو د شرک پریکړه دمخه کړل شوې ده ، اوهغه دا چې دهغې په اړه بښنه نه شي کیدې ، د افسوس خبره داده چې ددې نه اخوا دپاتې ګناه کونکو څخه دا هیله کیدې شي چې هغوې به کوم وخت توبه وکړي ،ځکه چې ګناه ته هر څوک ګناه وایی. خو مشرک اوبدعتي ټول عمر په دې غلطې انګیرنه کې پروت وي چې هغه نیکي کوي اوهغوې شرک اوبدعت ګناه نه ګڼي ، همدا علت دې چې هغه ته په خپل ژوند کې د توبې کولو اړتیا نه محسوسیږي ، هغه دخپل ځان له پاره د غښې په څیر خپله دغه د ځانه جوړه کړل شوې کلا مضبوطه او خوندي ګڼي ، خو دحقیقت یوه څپه هغه د نابودی سره مخ کوی.

شرک د ټولو بدیو جرړه ده:

مشرک په دې عقیده پوخ باور لري چې د الله تعالې څخه دد عا د قبلولو له پاره سپارښتنې ته اړتیا ده. د غښې په څیر ټول عمر په خپلې همدې غلطې انګیرنې کې را نغښتې وي او فکر کوي چې که هغه فلانکې بزرګ مې سپارښتنه وکړي نو ماته به نجات را کړل شي ، اودټولې خرابی به مې را جوړې کړې. هغه دخپلو خیالاتو په مطابق دبزرګانو روحونه دخپل ځان په اړه خوشحالوي ، اودهغوې په نوم نذرونه او نیازونه ورکوي او د عرس او بنډارونو له پاره خپله حاضري کافی ګڼي ، اوپه دې توګه خپل عمر تیروي. هغه خپل ځان د پاته ګناهونو څخه ازاد ګڼي ،یعنې شرک د ټولو ګناهونو جرړه ده. دنمونې په توګه یوه بازاري ښځه د خپلو ګناهونو د بښلو له پاره هیڅکله هم جومات ته نه ورځي خو دپیر په مزار باندې دیوه څادر غوړول ځانته کافي ګڼي اوپه همدې غلطې انګیرنې سره خوشحاله وخت تیروي. په اخبارونو کې به مود تښتولو او لوټولو پیښې اوخبرونه تر سترګو تیریږي ، دا ټول هر څه دشرک پایلې دي .

ولې شرک:

هیڅکله هم دا د یاده و نه کاږئ چې شیطان زمونږ ازلي او ابدي دښمن دې ، هغه تل هڅه کوي چې انسان هر وخت او هر ګړی ښکار کړي ، نو هر انسان چې لږ څه هم دالله د یاده غافل شي سمدستي پرې شیطان ولکه کوي لکه چې الله تعالې فرمایی:

»اوهر چا چې د رحمن د یادولو څخه غفلت وکړ،مونږ پرې شیطان مسلطوو ، او هغه دهغه هم ناستې ګرځي. بیا هغه د نیغې لارې څخه منه کوي او هغه فکر کوي چې هغه ته لاره ښوول شوې ده ، ان تر دې چې هغه زمونږ خواته را ورسیږي نو ( خپل شیطان ته به ) ووایی: کاشکې چې زما اوستا تر منځه د شرق اوغرب په اندازه واټن موجود واې. دا خو بدترین ملګرې وخوت.» ( الزخرف: ۳۸-۴۳/۳۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبله اړخه الله تعالې د حق د لټون جذبه په هر زړه کې ایښې ده ، انسان ټول عمر د حق پلټونکې اوسي ، شیطان د انسان ددې جذبې څخه پوره ګټه پورته کوي او هڅه کوي چې انسان بې علمه پاته شي تر څو د حق او باطل تر منځ بیلتون و نه شي کولې . او بیا د پورتنې ایتونو په مطابق دهغوې تر مخه باطل داسې را مخته کوي چې انسان یې حق و ګڼي او د خپل ژوند پانګه پرې مصرف کړي په دې اساس هیڅکله هم ورته د توبې کولو توفیق نه په برخه کیږي ان تر دې چې د مرګ شپه ورباندې راشي او حقیقت یې تر مخه راڅرګند شي او هغه ورځ راشي چې په اړه یې الله تعالې فرمایلي دي:

»په هغه ورځ به ظالمانو ته دهغوې معذرت هیڅ ګټه نه ور رسوي او په هغوې به لعنت وریږي او بدترین ځاې به یې په برخه کې راځي.« ( المؤمن: ۴۰/۵۲)

شیطان ډیر ښه پوهیږي چې د شرک نه پورته بله کومه ستره ګناه نه شته ، ځکه چې د شرک په اړه ښښنه نه شته. همدا علت دې چې هر وخت کې ډیره کې خلک په شرک کې ککړ وي ، دهغه ډیر زیات لښکر دهغه د کومک له پاره په دې لاره کې مصروف وي ، هغه د علماؤ ، پیرانو او درویشانو په لباس کې پر انسان باندې حمله کوي. الله تعالې مونږ دهغه ددې کړچار څخه په دې توګه خبر کړي یو:

»کومو خلکو ته چې مونږ کتاب ورکړې ، هغه هغوې داسې پیژني لکه څنګه چې خپل بچیان. خو په هغوې کې داسې یوه ډله شته چې په داسې حال کې چې حق پیژني سترګېترې پټوي.« (البقرة: ۲/۱۴۶)

دا هغه غنم شکله اوربشې پلورونکې مولوي صاحبان ، درویشان او پیران دي چې د درګاګانو رونق او د هغوې د قوت سرچینه هم مونږ په خپله یو. هغوې د حق د پټولو له پاره زمونږ څخه معاوضه هم تر لاسه کوي ، الله تعالې فرمایي چې:

»اې د ایمان خاوندانو ! ددې عالمانو او پیرانو څخه یې ډیر داسې دي چې په باطله توګه د خلکو مالونه هضموي او د الله د لارې څخه هم ( خلک ) منه کوي. « ( التوبه: ۹/۳۴)

مونږ دومره ناپوهه یو چې د خپل هر څه په ځارولو باندې بیا هم د باطل په ګمان کې پریوتي یو . او فکر کوو چې هغوې پر مونږ ډیر زیات احسان کوي، داخلک هم زمونږه وینه زبیښي او پر مونږ باندې فوقیت تر لاسه کوي ،مونږ دومره په ویره کې اچوي چې دهغوې له پاره د جنګ جګړې او ان تر مړینې پورې تیاریږو.

»اې خدایه ! ستا دا ساده بندګان چیرې ولاړشي ، سلطانې هم عیاري ده او درویشي هم عیاري«.

همدا راز الله تعالې فرمایي چې:

»او کله چې هغوې ته زمونږ څرګند ایاتونه واورول شي نو ته ویني چې د حق د منکرینو مخونه وران ویجاړ شي او داسې محسوسیږي چې هغوې به زمونږ د آیتونو په لوستونکې هم حمله وکړي. « (الحج: ۲۲/۷۲)

درنو لوستونکو ! تاسو به ډیر داسې حالات هم کتلې وي ، دا ټول دهمغه دوکه کونکو کړچار دي. عوام پرې غولیږي، ځکه دوې د اسانه مذهب او ښښنې له پاره تبلیغات کوي چې خلکو ته ډیر غوره ښکاري. هغوې همدا حق ګڼي او په همدې باندې د خپل ژوند پانګه مصرفوي. او بیا وایي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



»کله چې هغوې ته وویل شي چې د هغو احکامو پیروي وکړئ چې الله پر تاسې نازل کړي دي نو په ځواب کې وایي چې مونږ د همغې طریقې پیروی کوو چې خپل پلرونه او نیکونه مو پرې موندلي و. ولو که د هغوې پلرونه او نیکونه ناپوهه او د نیغې لارې څخه بې لارې وو.» ( البقرة: ۲/۱۷۰)

»کله چې هغوې ته وویل شي چې تاسې د الله په نازل کړل شوې کتاب ، یعنې د قران او د الله د رسول په لور راشئ ، نو دوې ځواب ورکوی او وایي چې مونږ ته همغه څه کافي دی چې خپلو پلرونو او نیکونو راته راښوولي دي.( ایا همدا د پلرونو او نیکونو تقلید به چلیږي ، ) که څه هم هغوې په څه نه پوهیدل او نه ورته د سهي لارې په اړه معلومات وو . » ( المائده: ۵/۱۰۴)

درنو لوستونکو !

راځې چې د معجزاتو او کراماتو د حقیقت په اړه د قران کریم په رڼا کې لږ څه غور وکړو.

**معجزه او کرامت:**

زمونږ د غولولو او دوکې له پاره چې کوم ( معجزات او کرامات ) مونږ ته اورول کیږي د هغې ډلې څخه یې ډیر له ځانه جوړ شوي او هوایي خبرې دي. خو که چیرې ریښتیا هم وي نو تاسې یوه خبره یاده لرئ چې معجزه د نبي او کرامت د ولي خپل فعل نه وي ، بلکه دا په پوره توګه د الله تعالي فعل دي. د هغې په ښکاره کولو کې بزرګان بې وسې دی .

د نمونې په توګه ووینئ چې کفارو به بیا بیا د معجزې د ښکاره کولو غوښتنه کوله او د نه وړاندې کولو په وخت کې به یې په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې نیوکې کولې. الله تعالي د هغوې په ځواب کې وویل چې:

»او له تا نه مخکې مونږ نور پیغمبران هم استولي وو ، هغوې ښځې او اولادونه هم درلودل ، د هیڅ نبي په وس کې هیڅکله هم نه وه چې د الله د اذن پرته کومه معجزه راښکاره کړي ،بلکه د هرې وعدې له پاره یوه لیکنه وی. » ( الرعد : ۱۳/۳۸)

بیا یې څرګنده کړه چې دا کومه نوې نیوکه نه ده ، بلکه د نوح قوم ، او د عاد او ثمود یانو یادونه یې کړې ده ، ورته یې وویل چې هغوې هم په خپلو انبیاؤ باندې نیوکې کولې ، چې یادونه یې الله تعالي په قران مجید کې داسې کړې ده:

»هغوې وویل چې: ته خو هم زمونږ په څیر بشریې. ستا اراده خو دا ده چې ته مونږ د هغه څه د عبادت څخه منه کړې چې زمونږ پلرونو او نیکونو به کول. نو زمونږ مخې ته کوم څرګند او واضح دلیل راوړه. د هغوې انبیاؤ وویل چې: مونږ خو هم ستاسې په څیر بشر یو خو الله د خپلو بندګانو څخه چاته چې وغواړي احسان پرې کوي ، زمونږ د وس خبره نه ده چې د الله د اجازې پرته کوم دلیل راوړو . د ایمان خاوندانو ته په کار دي چې یوا ځې په الله توکل وکړي.» (ابراهیم: ۱۳/۳۸)

نو که چیرې تاسې اوس هم په خبره پوه شوي نه یاست ، نو راځئ چې زه ستاسې تر مخه یو دوه نور مثالونه وړاندې کړم .

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱ -دمصر ځخه د وتلو وروسته مدين ته د موسې عليه السلام د تللو قصه مخته بيان شوې ده ، هغه قصه په دې ځاې کې پاې ته رسيدلې وه چې موسې عليه السلام د الله تعالې نه کومک غوښتې و . نو دغو دواړو ځوانو نجونو دخپلو حيواناتو دخړوبولو دغه پيښه خپل پلار ته واوروله ، او مشوره يې ورکړه چې هغه همدلته له ځانه سره ملازم کړي ، ځکه چې مونږ کوم ورور هم نه لرو .دهغوې ځخه يوه دهغوې پلار دموسې عليه السلام د راوستلو پسې ور وليږله ، دا پلار هم د الله نبې سيدنا شعيب عليه السلام و ، هغه په دې وخت کې کمزورې شوې و او د سترګو ديد يې هم له لاسه ورکړې و .

د سيدنا موسې او سيدنا شعثب عليهم السلام تر منځه يو تړون وشو ، سيدنا شعيب عليه السلام خپله يوه لور هغه ته په نکاح ورکړه . د تړون او معاهدې دوخت د پاې ته رسيدو په وخت کې موسې عليه السلام خپله ښځه له ځانه سره را واخسته او دخپل وطن مصر په لور روان شو .

ځنګلي لاره وه او د سختې يخنې موسم و ، شپه وه او لاره هم ورته نه وه معلومه . موسې عليه السلام خپلې محترمې ميرمنې ته وويل چې هلته په غره کې ماته اور تر سترګو کيږي زه به هلته ولاړ شم تر ځو تاسو ته د اور سکروټې راوړم .ترځو تاسې پرې ګرم شئ او شايد ماته دهغه ځايه کوم لارښوونکې هم را پيدا شي . کله چې هلته ور ورسيد نو اواز ورته وشو چې:

»اې موسې ! زه الله ، د جهانونو پالونکې پروردګار يم . ته خپله امصا کيږده . کله چې موسې هغه د يوې سترې اژدها په څير په خوزښت کې وکتله ، نوشا يې را واړوله او په تيښته شو ، ان تردې چې شاته يې هم نه کتل . الله ورته وفرمايل : اې موسې ! مخته راشه او مه ويريږه ، ته بلکل خوندي يې «.

) القصص: ۳۱-۳۰/۲۸.(

په زړه پورې خبره ده چې دا امصا تر ډيره وخته پورې د موسې عليه السلام په لاسو کې وه ، دهغې د غورزولو دحکم ځخه مخته ، الله تعالې ددې امصا دکيفيت په اړه او هم دهغه د زړه ځخه د ويرې د ويستلو په خاطر ترې پوښتلي وو چې:

»اې موسې ! ستا په ښي لاس کې څه شې دې ؟ ورته وويل چې : دا زما امصا ده . زه پرې تکيه کوم او تر څنګ يې پرې خپلو ګډو ته د ونو پاڼې را څنډم ، ددې نه علاوه ددې ځخه څه نورې ګټې هم اخلم . نو ورته وويل شول چې اې موسې ! هغه په زمکه وغورزوه . « (طه : ۱۹-۲۰/۱۷(

د قران عبارت مونږ ته څرګندوي چې د سيدنا موسې عليه السلام په وهم او ګمان کې هم نه و چې ددې امصا صورت او بڼه به په دې توګه بدليږي ، که چيرې دهغه په زړه کې کوم داسې تصور د پخوا ځخه موجود وايې نو بيا به هيڅکله هم نه وې ويريدلې . بيا وينئ چې موسې عليه السلام د فرعون په دربار کې دا الله تعالې د پيغام د ورسولو له پاره ودريد ،او دهمدې امصا ځخه چې کله الله تعالې وغوښتل څو معجزې را څرګندې شوې . فرعون او دهغه ملګرو هغه جادو و ګاڼه ، دمقابلې له پاره يې جادو ګران راوغوښتل ، جادوګران په ټاکل شوي وخت راغلل ، او دخپل جادو څرګندونه يې وکړه . هغوې د کوچنيو کوچنيو لرګيو اورسيو ځخه ماران جوړ کړل ، چې قران يې دا ډول يادونه کړې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library


» کله چې د جادوګرانو امصا ګانې او رسۍ د هغوې د جادو په اساس په ځغاسته شوې ، نوموسې وويريد خو ويره يې په خپل زړه کې پټه وساتله. نومونږ ورته وويل چې: اې موسې ! مه ويريږه هم ته به غالبيږې ،هغه څه چې ستا په ښې لاس کې دي هغه را وغورزوه ، دا به ټول هغه شيانو چې دوې جوړ کړې دې تير کړي، » ( طه: ۶۹-۲۰/۶۶(

لږ څه غور وکړئ ! همغه سيدنا موسې عليه السلام او همغه امصا ، چې ددې نه مخته يې څو ځله په هغې تجربه هم کړې وه ، خو هر ځل هغه په مار بدلول دهغه په وس کې نه و اونه ورته دا ډاډ ور په برخه و چې زما د غورزولو وروسته به ددې څخه ستره اژدها جوړه شي ، او که نه د ويريدو اړتيا ورته نه وه. بلکه په پټه به يې را غورزولې وې او دا ټول هر څه به يې تير کړې وې. خو دا دالله کار دې ، او که نه موسې عليه السلام په زړه کې ويره محسوسوله ، اوس يو مثال ووينئ ، اود ا د دواړو جهانونو د سردار د سيدنا محمد صلی الله عليه وسلم په اړه دې:

د کفارو غوښتنو ته وګورئ او دهغه صلی الله عليه وسلم ځواب واورئ ، کفارو د معجزاتو د راښکاره کولو غوښتنه کوله ، لکه چې الله تعالی په قران کريم کې داسې بيان کړې دي:

»هغوې وويل چې:مونږ ستا خبره نه منو . تر هغو چې ته زمونږ له پاره دا زمکه څيرې کړې او يوه چينه ترې را ونه کاږې. اويا ستا له پاره دکجور و او انګورو يو باغ وي اوته په هغې کې نهرونه روان کړې اويا ته اسمان ټوټې ټوټې کړې اوزمونږ په سر يې را پرې باسې لکه څنګه چې ته دعوې کوې. يا الله او ملائکې زمونږ مخې ته راوړې ، يا ستا له پاره د سرو زرو يو کور جوړ شي ،يا ته اسمان ته وخيژې ، خومونږ به ستا په ختلو تر هغې يقين ونه کړو تر څو چې ته پر مونږ باندې داسې يو ليکلې سند راوړې ، چې مونږ يې ولولو.( اې نبي ! ) ورته ووايه چې: زما رب پاک دې. زه خو يواځې يو پيغام راوړونکې انسان يم. » ( بنې اسرائيل: ۹۳-۱۷/۹۰(

معجزه يواځې او يواځې د الله تعالی فعل دې ، هر وخت چې دالله تعالی له اړخه اجازه شوې نو زمونږ نبي صلی الله عليه وسلم معجزه ښوولې ده. د بدر په ميدان کې هغه صلی الله عليه وسلم يو ډک موټې شګې هوا ته و شيندلې او هغه د کفارو په سترګو کې ولويدلې. ددې نه اخوا هغه وخت هم په ياد ولرئ چې د طائف بدمعاشانو زمونږ رسول په ډيره بې باکانه توګه زخمي کړ ،په تيږو يې وويشت ، اوکله چې هغه صلی الله عليه وسلم د ډيرې ستومانتيا څخه هلته کيناستل غوښتل نو تيږو ويشتونکو هغه کيناستو ته پرې نه ښود او تللو ته يې مجبور کړ ،نو که په وس کې يې وا يې يو موټې شګې به يې په لاس کې راختستې وای او په فضا کې به يې شيندلې واې ، په دې کار کې هغه ته هيڅ ډول ستونزه نه وه ، خو معجزه يواځې اويواځې دالله تعالی کار دې.

شاولي الله دهلوي محدث رحمة الله په خپل يوه کتاب ( تحفة الموحدين ) کې ليکي چې:« بايد دانست که کرامت اوليا حق است و منکر ان از ايمان حلاوتې ندارد. خرق عادتيکه از انبياء ظاهر شود انرا در عرف معجزه مې خوانند. او اګر از ديګر بزرګان پديد ايد کرامتش مې نامد و منشاء هر دو يکې است. يعنې قرب بارګاه الهي ، اما ظهور معجزه و کرامت باختيار بزرګان نيست بلکه با ختيار وقدرت خداې عزو جل است و بزرګان بذات خود قوت ظاهر کردن آن نمې دارند«

د لنډيز په خاطر به يې همدلته بس کړم. خو دا بايد په ذهن کې ولرو چې کوم فريب ورکونکې تاسې په فريب کې وا نه چوی.

خپل ځواب به پخپله ورکوئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅوک دې په دې غلطۍ انګیرنه کې نه پریوځې چې بل څوک به یې بار پورته کړي ، اویا به یې څوک مسؤلیت په غاړه واخلي ، الله تعالی فرمایي چې:

»اې د ایمان خاوندانو ! تاسې ټول د خپلو ځانو پخپله مسؤلین یاست. که چیرې تاسې هدایت وموند نو د بل چا ګمراه کیدل تاسې ته کوم زیان نه شي در رسولی.«( المائده: ۵/۱۰۵)

اوبیا فرمایي چې:« دهغه څخه به بل کوم ظالم وي چې درواغ خبرې جوړې اوبیا یې الله ته منسوبوي یا د الله رښتوني خبري درواغ وګڼي. دې خلکو ته به د نصیبونو لیکلې ور رسیږي ، ان تر دې چې زمونږ ورلیږل شوي ملایکې دهغوې دروحونو د قبضولو په خاطر راشي او ووايي چې چې هغه چیرې دي چې تاسې دالله تعالی پرته را بلل ؟ ځواب به ورکوي چې هغوې ټولو مونږ پرې ایښې یو . په دې توګه به هغوې پخپله دخپلو ځانونو پر خلاف ګواهي ورکوي چې دوې کفر کاوه ،حکم به وکړل شي چې تاسې هم د پیریانو او انسانانو د هغو ډلو سره یو ځای د جهنم ته ورننوځئ چې له تاسې مخته تیر شوي. کله چې یوه ډله په جهنم کې ور واچول شي نو هغوې به دخپل ځان په څیر بلې ډلې باندې لعنت وايي ان تر دې چې ټول به په هغه ځای کې سره را ټول کړل شي ، وروسته راتلونکې خلک به د مخکې تیرو شوو خلکو په اړه وايي چې اې زمونږه پروردګاره ! دا هغه خلک دي چې مونږ یې ګمراه کړي وو ، دوې ته د اور دوه هومره عذاب ورکړې. حکم به وشي چې د ټولو له پاره دوه هومره عذاب دې مګر تاسې پرې نه پوهیږئ ، بیا به هغه تیرشوي خلک دخپل ځانه وروسته راغلیو خلکو په اړه وايي چې تاسې ته پر مونږ باندې هیڅ ډول فضیلت نه دې په برخه. (تاسې پخپله ګمراه کیدل غوښتل مونږ له تاسې سره څه کړي دي ؟) نن دخپلو کړنو سزا و څکئ.» ( الاعراف: ۳۹-۷/۳۷)

غور وکړئ چې هیڅ بهانه به نه په کار بیږي ، ګمراه کونکي به په عذاب کې را ګیر وي ، خو دهغه فرمانبردار به دکومې بهانې یا حیلې په اساس خوندي پاته نه شی. هیڅوک به دهغه د حال پوښتونکې نه وی. د پیری او مریدی دغه دعوې به دړې وړې شی لکه چې الله تعالی فرمايي چې:

»هغه وخت چې فرمانبرداری کونکې خلک دخپلو فرمانبردارانو څخه بې زاره شي. عذاب به په خپله مخه کې ویني او دهغوې خپل منځې اړیکې به پرې کیږی. فرمانبرداران به ورته وايي چې: هاې افسوس: که چیرې یو ځل بیا مې دنیاته پریږدئ نو مونږ به دهغو خلکو څخه همداسې بیزاره شو لکه څنګه چې هغوې نن زمونږ څخه بیزاره دي. په همدې توګه به الله تعالی هغوې ته دهغوې کړچار وروښیې او دهغوې په زړونو کې به حسرت او افسوس وي او هغوې به په هیڅ توګه د دوزخ د اور څخه بیرون نه شي.« (البقرة: ۲/ ۱۲۷-۱۲۶)

نن دهمدې خلکو ددکانونو چلونکې وګړي، چې دهمدې درواغجنو دعوې کونکو د تائید له پاره د (ژوندې دې وې ) نعرې وهي ، باید خبر اوسي چې هغه ورځ به ډیره سخته وی چې په اړه یې الله تعالی فرمايي:

»په هغه وخت کې چې ظالم د غم په اساس خپل لاسونه چیچي ، وايي به چې اې افسوس ! زه درسول الله صلی الله علیه وسلم په قدم تلم ، هاې افسوس ! چې فلان شخص مې خپل همناستې نه وې غوره کړې ، وروسته ماته ذکر (قران ) هم راغلې و ، ( خو زما همناستي ) زه ګمراه کړم ، شیطان خو انسان په هلاکت کې اچوي ،بیا به رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي چې: زما پروردګاره ! زما دې قوم دا قران دغسې ایښې و ، لکه چې هغوې بلکل پرې ایښې وي.« ( الفرقان: ۳۰-۲۵/۲۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الهي احکامو او نبوی تګلارې شاته غورزونکې او د ړانده تقليد پسې تلونکې او په هغې باندې خپل ځان ځارونکې دې نن هم په خپلو اعمالو باندې نظر وکړی .

قران پاک دا ويرونکې حالت داسې انځوروی :

»کاشکې ! چې ته مجرمين په هغه حالت کې ووينې چې هغوې د خپل پروردګار تر مخ ټيټ سر ولاړ وي او وايي چې : اې زمونږ پروردګاره ! مونږ و ليدل او وموکتل. بس يو ځل بيا مونږ دنيا ته بيرته ستانه کړه تر څو مونږ نيک او صالح اعمال تر سره کړو . بې شکه چې مونږ ته يقين ترلاسه شوې دې « .

)السجده: ۳۲/۱۲ (

مه هيروئ ! چې دې نړۍ ته يو اځې يو ځل راتلل دي. زمونږ د پيغمبر صلي الله عليه وسلم وينا ده چې مولانا حالی په خپل مشهور کتاب « مدو جزر اسلام »کې چې په ( مسدس حالي ) مشهور شوې دې ، داسې را خستې ده چې:

غنيمت هے صحت ، علالت سے پهلے فراغت ، مشاغل کے کثرت سے پهلے

جوانی ، برهاپے کے زحمت سے پهلے اقامت ، مسافر کې رحلت سے پهلے

فقيرې سے پهلے غنيمت هے دولت جو کرناهے کرلو که تهوړی هے مهلت

»د ناروغتيا د مخه روغتيا غنيمت دې ، او د زياتو مصروفيتونو د مخه فراغت غنيمت دې .

ځوانې د زړښت د زحمت نه مخته ، او د مسافرت د رحلت نه مخته اقامت غنيمت دې .

د فقيرې څخه د مخه مال او دولت غنيمت دې نو هغه څه چې غواړې ويی کړې ، وبی کړه چې همدا مهلت دې«.

او که نه په ناهيلۍ کې غم او غصه د هيڅ په کار نه راځی ، لکه څنګه چې الله تعالې فرمايي:

کافران به وايی چې: اې زمونږه پروردګاره ! مونږ ته د پيريانو او انسانانو څخه هغوې را څرګند کړه چې مونږ يی ګمراه کړي و تر څو مونږ هغوې د خپلو پښو لاندې کړو او ذليله او خوار يی کړو «.

)حم السجده: ۴۱/۲۹(

همدا راز فرمايي چې :

»هغه ورځ چې د هغوې مخونه د اور په لور واړول شي ، نو وايی به دوې چې: هاې افسوس ! چې مونږ د الله او د هغه د رسول فرانبرداري کولې ، وايی به چې اې زمونږ پروردګاره ! مونږ د خپلو سيدنانو او پيرانو فرمانبرداري کوله ، همغوې مونږ د سمې لارې څخه بې لارې کړو ، اې پروردګاره ! هغوې ته دوه هومره عذاب ورکړه او په هغوې ډير زيات لعنت وکړه. »( الاحزاب: ۲۸-۳۳/۲۲(

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا راز الله تعالي فرمايي چې:

»کاشکې چې ته دهغو ظالمانو هغه حال ووينې چې هغوې دخپل رب تر مخه ولاړ وي ، هغوې به يو په بل الزام لګوي ،کمزورې او تر فشار لاندې خلک به ځواکمنو او متکبرو خلکو ته وايي چې: که چيرې تاسې نه واست نو مونږ به مؤمن واي. دا جابر او مغروره خلک به ورته ځواب ورکړي چې: ايا هغه وخت چې تاسې ته هدايت راغلې و نو مونږ ترې منه کړې وئ ؟ بلکه تاسې په خپله مجرمين ياست ، بيا به کمزورې او بې وسې خلک دغو مغرور خلکو ته ووايي چې: همدا تاسې وئ چې شپه او ورځ به مو له مونږه سره مکر او فريب کاوه او مونږ ته مو د الله سره د شرک او کفر کولو حکم کاوه. کله چې دا دواړه ډلې عذاب ووينې نو خپله شرمندګې به پټه کړي.» ( سبا: ۳۳-۳۱/۳۴)

زما په خير انسانانو!

»دا قافله له دې ځايه تلونکې ده ، دهغه وخته وويرېږئ چې ستاسې تر مخه را روان دې «

هغه به د نفسا نفسي او دخپل ځان په اړه د فکر کولو وخت وی ، هيڅوک به دهيچا مسؤليت نه قبلوي ، نن چې مونږ دکومو درواغجنو دعوا کونکو ملاتړ کوو همغوې به له مونږه په هغه ورځ بيزاره وي او حکم به وشي چې :

»را تاو شئ دهغوظالمانو څخه ، دهغوې دملګرو اودهغوې څخه چې دوې د الله څخه پرته معبودان ګڼل. دوې ته د دوزخ لاره ور وښيئ ، لږ څه هغوې تم کړئ ! دهغوې څخه پوښتنه کيږی چې: په تاسو څه شوي وو ؟اوس ولې يو دبل مرسته نه شئ کولې ؟ بلکه په دې ورځ به دوې ډير زيات فرمانبرداره وګرځي ، بيا به دوې يو بل ته مخ کړي او ترې وبه پوښتي چې: همدا تاسو وئ چې پر مونږ باندې دخپل ځواک په زور را ختلئ ، هغوې به ځواب ورکړی چې: تاسې په خپله بې ايمانه وئ ، مونږ ته په تاسوباندې څه ډول غلبه را په برخه وه ؟ تاسو خو پخپله باغيان واست ، نن زمونږ د پروردګار فرمان پر مونږ باندې حق ثابت شو. مونږ په عذاب کې ککړ يو ، مونږ تاسې بې لارې کړئ ځکه چې مونږ په خپله لارورکي وو.» ( الصفت: ۲۳-۲۲/۳۷)

»ماته په دغه دروند انسان باندې خندا راځی غلطی په خپله کوي او لعنت په شيطان وايي«

خو دا ټول عذرونه به هسې عبث وګرزي ، لکه چې الله تعالي فرمايي:

»او کله چې دا خلک د الله تعالي تر مخه را بربنډ شي ، نو هغه وخت به د دوې څخه هغوې چې په دنيا کې کمزورې وو ، هغو خلکو ته چې ددوې څخه يې ځانونه غټ ګڼل وايي چې مونږ خو ستاسو فرمانبرداره وو. ايا تاسې زمونږ څخه دالله د عذاب لږ څه برخه لرې کولې شئ ؟ هغوې به ورته ووايي چې: که چيرې الله مونږ ته لار ښوونه کولې نو مونږ به هم تاسو ته لارښوونه کړې واې. نن که مونږ صبر وکړو او که بې صبري ، يو برابر دي ، زمونږ د تيښتې له پاره کومه لاره نه شته. کله چې پريکړه وشي نو شيطان به ووايي چې: هغه وعده چې الله له تاسې سره کړې وه هغه رېښتونې وه. ما هم له تاسو سره وعده کړې وه خو ما د وعدې مخالفت وکړ. ماته په تاسې باندې هيڅ ډول غلبه نه وه را په برخه. ددې پرته چې ما تاسو ته بلنه درکړه او تاسې هغه ومنله. نن تاسې ما مه ملامتوئ ، بلکه خپل ځانونه ملامته کړئ ، نن نه زه ستاسې فرياد ته رسيدلې شم او نه تاسې زما فرياد ته. دا چې تاسې زه د خداې سره شريکولم نو زه دهغې څخه برى الذمه يم ، بې شکه چې د ظالمانو له پاره دردناک عذاب دې.» ( ابراهيم: ۲۲-۲۱/۱۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا تکرار به جاري وي ، خو هيڅوک به هم مسؤليت نه مني او نه به دوی د عذاب څخه خلاصی و مومي ، الله تعالی دهمدا ډول خلکو په اړه فرمايي چې:

»او کله چې دا خلک په دوزخ کې يو دبل سره په جګړه کې وي ، هغوی چې په دنيا کې کمزوري وو ، د خپله ځانه هغه غټو ته به وايي چې مونږ خو ستاسې فرمانبرداره وو . ايا تاسې د اور لږ څه برخه له مونږه څخه لرې کولی شئ ؟ مغروران به ورته ځواب ورکړي مونږ ټول په همدې کې يو او الله د بندګانو په اړه پريکړه کړې ده . ددوزخ خلک به د جهنم د ساتونکو څخه غوښتنه وکړي: چې تاسې خپل پروردګار ته دعا وکړئ چې زمونږ عذاب تر يوې لمحې پورې لږ راکم کړي. هغوی به ځواب ورکړي چې ايا ستاسې ته واضحه دلايل نه و راوړي ؟ هغوی به وو ايي چې : راوړي يې وو. بيا به هغوی ځواب ورکړي چې: اوس نو تاسې په خپله دعا وکړئ ، خو دظالمانو دعاوي به هسې خوشې ولاړې شي.« (المؤمن: ۵۰-۴۷/۴۰)

لږ څه غور وکړئ ! دمشرک انجام ووينئ ، هغه تل دخپله پروردګاره مايوسه او ناهيلي اوسي. د نورو په واسطه ددعاوو کولو عادت هلته هم نه پريږدي ، هغوی نه الله تعالی خپل پروردګار ګڼلې او نه يې ترې په خپله دد عا کولو ضرورت احساس کړې دې. همله ته هم وايي چې تاسې خپل پروردګار ته دعا وکړئ ، دوی به همدا سې د درد په حالت کې ټکرې خوري او ګرځی به. د يوې دروازې څخه به ناهيلې کيږی او دبلې دروازې دره به ورټکوي ، او دهغې ځايه څخه يې دمراد د نه تر لاسه کيدو وروسته بلې لورې ته درومي ، شيطان په مشرکانو باندې داسې سپريږې چې شرک ورته په خپله توحيد تر ستر ګو کيږي .

دا مه هيروئ ! چې الله تعالی يو ځې او يو ځې يو ذات دې چې د خپل بنده څخه شرم کوي ، کله چې دهغه بنده دهغه څخه سوال کوی هغه يې خالي لاس نه پريږدي. نن هم وخت دې چې که چيرې تاسې ټول عمر د شرک په ګند کې تير کړې وي ،توبه وکړئ ، بيرته راستانه شئ ، نو الله تعالی به ډير غفور او رحيم و مومئ.

د الله د رحمت نه مه ناهيلي کيږئ:

ګورئ ! الله تعالی خپل دوست او حبيب صلی الله عليه وسلم ته وايي چې:زما بندګانو ته زيرې ورکړه چې:

»اې زما بندګانو ! چې په خپلو ځانونو مو تيرې کړې ، دالله د رحمت نه مه ناهيلي کيږئ ، الله ټول ګناهونه ښښي ،بې شکه هغه غفور اورحيم دې. د خپل پروردګار په لور را واوړئ اودهغه مطيع او فرمانبرداره اوسئ ، مخکې له دې چې تاسې په عذاب کې را و نښلئ نوبيا به نه ستاسو کوم يار وی او نه مدد ګار. هغه څه چې ستاسې د پروردګار له اړخه نازل شوې دي ، دهغې څخه د ښو خبرو پيروي وکړئ ، پخوا له دې چې تاسې په نا څاپې توګه په عذاب کې اخته شئ او تاسې ته وهم وګمان هم نه وی. بيا داسې نه وي چې ستاسې څخه کوم يو پښيمانه شی او وايی چې: هاې افسوس ! ما د الله په اړه تقصير کړی و بلکه زه خو هسې د ټوکو کونکو په ډله کې شامل شوې وم. بيا وو ايی چې که چيرې ما ته الله هدايت کړې واې نوزه به د پرهيزګارانو څخه واې. اويا کوم يو ستاسې څخه عذاب ووينې نو وايی چې: هاې افسوس ! که چيرې ما ته د يو ځل بيا ستنيدو فرصت تر لاسه شی نوزه به د نيکۍ کونکو څخه وګرځم« ( الزمر: ۵۸-۵۳/۳۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library


د زړه څخه دا غلطه انګيرنه وکاږئ چې د الله تعالې په فرمانبرداری کې به تاسې ته کوم زيان در ورسيږي ، په قران پاک کې الله تعالې د خپلو فرمانبرداره بندګانو سره د دنيا دښايسته کولو وعده هم کړې ده. راځئ دغه آيت دنمونې په توګه ولولئ ، الله تعالې فرمايي چې:

»که چيرې دې د کليو خلکو ايمان راوړې واې او پرهيزګاري يې خپله کړې واې ، نومونږ به پر هغوې داسمان اوزمکې دبرکتونو دروازې پرانستې واې ، خو دوې درواغ ګڼي او مونږ هغوې دهغوې داعمالو په بنسټ را نيسو. »( الاعراف: ۷/۹۲)

وويني ! په دنيا کې نن ددولت اومال د ډيرښت سره سره بيا هم د زړه سکون نا پيدا دی. ددې علت دادې چې دخلکو د نافرمانيو په اساس الله تعالې دبرکتونو دروازې بندې کړې دي ، اودهغه کار څخه چې الله برکت لرې کړي نو سکون او اطمينان به په کې څه ډول را پيدا شی ؟ تاسې ددې فرمانبرداری ميوې په دنيا کې هم تر لاسه کولې شئ او په قيامت کې هم. هغه ځای کې چې د تيارو پسې تيارې وي او دخپلو نيکو اعمالو د رڼا پرته نوره رڼا نه تر ستر ګو کيږي ،لکه څنګه چې دالله تعالې فرمان دې:

»په هغه ورځ به ته مؤمن نارينه او مؤمنې ښځې ووينې چې دهغوې نور به دهغوې مخې او دواړو اړخونو ته ځغلي ، هغوې ته به وويل شی چې تاسې ته دهغوې جنتونو زيرې درکول کيږي چې نهرونه په کې روان دي ، تاسو به هلته تل تر تله اوسئ ، دا ډيره ستره بريا ده. په دې ورځ به منافق نارينه او منافقې ښځې دايمان خاوندانو ته وايی چې: زمونږ لوري ته خو يو نظر وکړئ تر څو مونږ هم ستاسې له رڼا او نور څخه ګټه واخلو. هغوې ته به وويل شي چې شاته ولاړ شئ ، دخپل ځان له پاره دبله کومه ځايه رڼا را وړئ، په دې وخت کې به ددوې تر منځه يو ديوال و درول شی ، په هغې کې به يوه دروازه وي ددې دروازې دننه به رحمت وي او بهر به ترې عذاب. دغه دنوره بې برخې به هغو دښه نصيب خاوندانو( خوشنصيبو ) ته اواز کوي اووايی به چې: ايا مونږ له تاسې سره يوځای نه اوسيدو ؟ هغوې به ځواب ورکړي چې ولې نه. خو تاسو خپل ځانونه په فتنه کې اچولې و. تاسو انتظار کاوه او په مصلحتونو کې را نښتې وئ ، تاسو هغو دروا غجنو هيلوپه دوکه کې اچولي واست. ان تردې چې د الله حکم راغې. تاسې هغو فريب ورکونکو د الله په اړه په فريب کې واچولئ ، نن به له تاسې او کافرانو څخه هيڅ ډول فديه(بدله ) و نه منل شی. ستا سې د اوسيدو ځای اور دې.( تاسې خو هيڅکله هم الله د مولا په څير نه و منلې ) نن همدا دوزخ ستاسې مولا دې او دا بدترين انجام دې.. ايا د ايمان په دعوا کونکو باندې تر اوسه پورې وخت نه دې راغلې چې دهغوې زړونه د الله په ياد کې ويلې شي اودهغه د نازل کړې شوې حق تابعداري وکړي اودوې دهغو خلکو په څير و نه ګرځي چې پخوا ورته کتاب ورکړل شوې و ، اود وختونو په تيريدو سره دهغوې زړونه سخت شول اودهغوې څخه ډيرکي يې فاسقان وګرزيدل. » ( الحديد: ۱۲-۵۷/۱۲)

درب العالمين سره عهد و پيمان اودهغې غوښتنې:

الله تعالې د انسانانو د پيدا ايښت تر مخه دهغوې څخه يوه ژمنه اخستې وه اوهغه داوه چې ذکر يې الله تعالې به قران کريم کې داسې کړې دې:

» الست بربکم» ايا زه ستاسې رب نه يم ؟ په هغه وخت کې ټولو ويلې وو چې:« ولې نه ! اې زمونږه پروردګاره !» په هغه وخت کې ټولو درب په ربوبيت باندې اقرار کړې و .

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعني د الله تعالې په ربوبیت باندې اقرار کول د انسانانو په فطرت او وجدان کې داخل دي. نو د الله تعالې د دې ربوبیت مطلب او غوښتنه څه ده ؟

همدا چې انسان په خپله نه پیدا کیږي ، بلکه هغه د کائیناتو خالق پیدا کړې دی. او هغه یې هسې د لوبې او تماشې له پاره نه دی پیدا کړی بلکه د یوه مقصد له مخې یې هغه ته وجود ورکړی او هغه مقصد د الله تعالې عبادت او اطاعت دی.

اوس د دې ربوبیت مطلب او غوښتنه دا ده چې: انسان یوازې د همغې عبادت وکړي او د همغې اطاعت وکړی. د الله تعالې پرته د بل چا عبادت هم جایز نه دی او د اطاعت حق لرونکې هم یوازې او یوازې الله تعالې دی.

د الله تعالې پوښتنه:

الله تعالې له تاسې څخه یوه پوښتنه کړې ده:

»ایا الله د خپل بنده له پاره کافي نه دی؟« ( الزمر: ۳۹/۳۶(

له تاسې سره د دې پوښتنې له پاره څه ډول ځواب شته ؟ په خپل ژوند یو نظر وکړئ ، هغه د رحمانیت د صفت لاندې تاسې ته څومره نعمتونه درکړی دي ، اعلان کوي چې له ما څخه د غوښتونکو له پاره زما رحیمیت ځانګړې دی :

»او هغه څه چې تاسې وغوښتل ، درموکړل. او که چیرې تاسې د الله د نعمتونو حساب وکړئ ، هیڅکله به یې ونه کړای شئ. یقینا چې انسان ډیر بې انصافه او ناشکره دی.« ( ابراهیم: ۱۳/۳۴(

ولې دومره بدګمانی ؟ او دا دومره صدقې او واسطې د څه له پاره ؟

وما علینا الا البلاغ

لنډیز:

درنو لوستونکو ! هر څومره لنډیز چې ما کولی شو هغه مې وکړ. ویریدم چې خبره به را څخه اوږده شي. او که نه دا خبرې پای ته رسیدونکې نه دي. هغه څه چې د قران د لوست نه وروسته ما زده کړي هغه مې ستاسو تر مخ کیښودې خو شونې ده چې په ځینو ځایو کې به ما د قران مفهوم په سهي توګه نه وی وړاندې کړې. الله تعالې دې بښنه وکړي ، خو که چیرې کوم د اسې ځای وي نو ما ته د یوه لیک په ذریعه خبر راکړئ ، خو که چیرې زما خبره سهي وی نو ستا سو څخه غواړم چې د انصاف غوښتنه پوره کړئ او هغه دا ډول چې د ډیرو نه ډیرو خلکو ته دا پیغام ور ورسوئ ، او زما له پاره د خیر دعا وکړئ.

زه نه د علم خاوند یم او نه د علم د خاوند کیدو کومه دعوا کوم. خو که چیرې ریښتیا خبره یوه جاهل او ناپوه انسان هم وکړي ، د هغې منل د عقل د خاوندانو کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسو د دعاوو غوښتونکې :

بشير احمد لودهي، (بې–اې ، بې ايډ(

فتح ګړه ، سيالکوټ ،۲۵ فروري ۱۹۸۸

ژباړه: قريب الرحمن سعيد

ناروې ، اوسلو : ۸ جنوري ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقریب الرحمن سعید په اړه

د ویکیپېډیا لخوا

قریب الرحمن سعید (۲۰ د جون ۱۹۵۲) د ننګرهار ولایت یو تکړه ژورنالست، سیاسي کارپوه، لیکوال او ژباړونکی دی. هغه په افغانستان کې دننه او د افغانستان نه دباندې په افغاني رسنیو کې منظمې لیکنې هم خپرې کړې او د نورو ژبو نه یې یو شمېر کتابونه هم پښتو ژبې ته ژباړلي دي.

د قریب الرحمن سعید پخوانی تخلص مولوي زاده ؤ چې د جهاد په وختونو کې یې سعید غوره کړی. هغه د مولوي ګل رحمن دیوبندي زوی دی. نوموړی د افغانستان د ننګرهار ولایت د روداتو د ولسوالۍ په شارسول کلي کې زیږېدلی دی. د نوموړي پلار مولوي ګل رحمن دیوبندي د خپل وخت یو لوی عالم، ښه لیکوال او شاعر ؤ.

خپلې لومړنۍ زده کړې یې د روداتو د ولسوالۍ د احداد په لومړني او منځني ښوونځي کې سر ته رسولي بیا د ننګرهار لیسې نه یې د ۱۲ ټولګي بریلیک اخیستی. د لوړو زده کړو پیل یې د کابل په پوهنتون کې د ساینس فاکولتې د کیمیا او شمېرپوهنې په څانګه کې کړی چې په ۱۹۷۵ ز. کال کې له همدغې پوهنځۍ نه بریالی راوتلی. تر دې وروسته په ۱۹۸۴ ز. کال کې یې د لندن په ستي یونیورستي (د لندن د ښار پوهنتون) کې د ژورنالیزم ۸ اونیزه کورس بشپړ کړی چې په دې څانګه کې یې د ماسترۍ تر کچې کورسونه لوستي دي. په ۲۰۰۸ ز. کال کې په ناروې کې د اوسلو په پوهنتون کې د ټولنیزو پوهنو د پوهنځۍ څخه د سیاسي او ټولنیز اقتصاد دوهم لیسانس ترلاسه کړی او دم مهال په همدې څانګه کې خپل د ماسترۍ د بریلیک په لاس ته راوړلو بوخت دی.

1. د ننګرهاد د ولایت د روداتود ولسوالۍ د احداد په لیسه کې د کیمیا اوریاضې استاد .
2. دلیرډ په دیار کې پر افغانستان کې د روسي پوځ د یرغل پر خلاف د نړېوالو رسنیو سره د اړیکو مسئول .
3. د مطبوعاتو او معلوماتو (Press and information) د دفتر عمومي مشر .
4. د هجرت د اردو ژبې مجلې بنسټ ایښوونکې او مسئول مدیر .
5. د افغان خبرې اژانس (Afghan News Agency ANA) بنسټ ایښوونکې او عمومي مشر
6. د اوه ګوني یووالي (دافغانستان دمجاهدینو د اسلامي اتحاد ) ویاند .
7. د روزنیزه او ټولنیزه مؤسسو او په ځانګړې توګه د مهاجرینو د کوچنیانو د فعالو سره یو فعاله ونډه اخستونکې .
8. د افغانستان د حزب اسلامي د اجرائیه شورا غړی ، د دې ګوند د فرهنګي کمیتې مشر او د همدې ګوند ویاند .
9. د افغانستان د عظمي صدارت د مطبوعاتو عمومي رئیس او د صدراعظم ویاند .

(c) ketabton.com: The Digital Library



10. د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د کمیسیون رئیس او د دغه وزارت سرپرست وزیر. او اوس

11. په اروپا کې د حزب اسلامي افغانستان د سولې د جرګګۍ مشر.

ځانګړې وړتوبونه

قریب الرحمن سعید د لندن په (Kingsway-Princeton college) کالج کې د انګلیسي ژبه زده کړې همدا راز په ۱۹۹۱ ز. کال کې د امریکا د نبراسکا د پوهنتون د سکالرشپ له مخې د انګلیسي ژبې د زده کړې کورسونه بشپړ کړي. هغه د خپلې مورنۍ ژبې تر څنګ په فارسي، عربي، اردو، انګریزي او ناروېژي ژبو ښه پوهېږي او خپلې لیکنې هم پرې کولای شي.

د استاد قریب الرحمن سعید نورې پښتو ژباړې:

1. اسلامي سیاست.(مولانا ګوهر الرحمن«رح» ) (چاپ شوی(

2. اسلامي ریاست.( مولانا ابوالاعلي مودودي «رح» )(د چاپ لاندې(

3. خلافت او ملوکیت..( مولانا ابوالاعلي مودودي «رح» )(چاپ شوی(

4. پرده..( مولانا ابوالاعلي مودودي «رح» )(چاپ شوی(

5. د حدیثو د انکار نه د قران تر انکاره پورې. (مولانا عبدالسلام رستمي «رح» )(چاپ شوی(

6. دنبوت پایځ.(مولانا عبدالسلام رستمي «رح» )(د چاپ لاندې(

7. دصلاح الدین یوبي ریښتنې پېښې (دایمان پلورونکو داستان ) ( التمش ) (د چاپ لاندې(

8. د رسول الله(ص) د انقلاب حکمت.(سید اسعد ګیلاني «رح» )(چاپ شوی(

9. یو شمیر نورې کوچنۍ رسالې (په اردو او پښتو ژبو ) چې نومونه یې زما په لیکنو کې کتلای شئ.

10. د بایزید یلدرم تاریخي په زړه پورې ناول.

11. د سلطان علاو الدین خلجیي په زړه پورې ناول.

12. د شیرشاه سورې مشهور ناول ( همدا اوس د ژباړې لاندې دې(

13. لاسوندونه او وثیقې: د رسول الله ص له وخته تر راشدینو خلفاؤ پورې (ترچاپ لاندې دې(

(c) ketabton.com: The Digital Library


**14.** زمونږ آند (همدا اوس د کار لاندې دې(

**15.** مونږ او توحيد د بشير احمد لودهي ليکنه ( همدا اوس د چاپ لاندې ده(

**16.** زيات شمير پښتو مضامين او د انګليسي او د اردو ژبو څخه ژباړل شوې او هم په انګليسي ژبه سياسې شننې ، مقالې او ليکنې چې په پښتو او نګليسي ژبو ورځپاڼو او يو شمير اونيزو او مياشتنيزو کې خپاره شوې دي( په خواشينۍ سره چې ريکارډ يې له ژباړن سره نشته(.

# پـــــای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**